د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب، د بښونکو د روزنې او
د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

پښتو

دوهم ټولګی

Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۸۹ هـ . ش.

ketabton.com - The Digital Library

درسی کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري
په بازار کې يې اخيستنه او خرڅونه په کلکه منع
ده. له سر غړونکو سره قانوني چلند کيږي.

ISBN 978-9936-25-160-1

ketabton.com - The Digital Library

د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او
د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

پښتو

دوهم ټولگی

د چاپ کال: ۱۳۸۹ هـ . ش.

ketabton.com - The Digital Library

د کتاب د تالیف، څېړنې او تدقیق کمیټې

لیکوالان:

۱. د سر مؤلف مرستیال امین الله نژند او سوسن وردګ.

تایید او مطالعه:

ملي شورا:

د ولسي او مشرانو جرګو د دیني، پوهنې او لوړو زده کړو د کمیسیونونو غړي.

د څېړنې او تدقیق کمېټې:

کابل پوهنتون:

- پوهندوی محمد رفیق رفیق د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي د پښتو دیپارتمنټ استاد.
- پوهنمل مکمل د کابل پوهنتون اداري مرستیال.

علومو اکاډمي:

- سر څېړونکی عبدالله بختانی خدمتګار د افغانستان د علومو د اکاډمی پخوانی غړی.
- څېړونکی حبیب الله رفیع د افغانستان د علومو اکاډمی علمي غړی.
- سر څېړونکی عبدالواجد واجد د افغانستان د علومو اکاډمی د ژبو او ادبیاتو د مرکز رئیس.

د پوهنې وزارت:

۱. ډاکټر صدیق الله ویرا د پوهنې وزارت سلاکار.
۲. د سر مؤلف مرستیال سید محمود کارګر د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړی او اډیټور.
۳. دمؤلف مرستیاله فروزان خاموش د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړې.
۴. د مؤلف مرستیال محمد سهراب دیدار د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړی.
۵. د مؤلف مرسیتال محمد عزیز تحریک د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړی او اډیټور.
٦. محمد عزیز حسین خپل د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړی.
۷. فریده نایبی د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړې.
۸. شکیلا دوست د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړې.
۹. انځورګران: محمد ظاهر طاهري او سید انور مېچنخېل.

د محتویاتو، دیني، فرهنګي او سیاسي برخو د څېړنې او کره کتنې کمېټې:

- دوکتور محمد یوسف نیازي د پوهنې وزارت سلاکار.
- محمد آصف ننګ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئیس.

د تدقیق، تصحیح او څارنې کمیسیون:

دکتور عبدالغفور غزنوي د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معین- د کمیسیون رئیس.
د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس.- غړی
سید محمود خلیق د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست علمي غړی- غړی

طرح او ډیزاین:
عزت الله غفاري

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

ketabton.com - The Digital Library

ملي سرود

دا وطن افغانستـــان دی — دا عزت د هـــر افغان دی

کور د سولې کور د تورې — هر بچي يې قهرمـــان دی

دا وطن د ټولو کـور دی — د بلوڅـــو د ازبکـــو

د پښتـــون او هزاره وو — د ترکمنـــو د تاجکـــو

ورسره عرب، گوجـــر دي — پامېـــريان، نورستانيـــان

براهوي دي، قزلباش دي — هم ايمـــاق، هم پشـه يان

دا هيـــواد به تل ځليږي — لکـــه لمـــر پر شنه آسمـان

په سينـــه کې د آسيـــا به — لکـــه زړه وي جـــاويدان

نوم د حق مودی رهبـــر — وايو الله اکبر وايو الله اکبر

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

د پوهنې د وزیر پیغام

ګرانو استادانو، ښوونکو او زده کوونکو،

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختګ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کیږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښایي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زیاتې شوې دي. د زده کړې په بهیر کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه ګرځیدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده‌کوونکو میندې او پلرونه هم د خپلو لوړو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې بریاوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زمور ګران استادان او ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او درونده مسؤولیت لري.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتیاوو له مخې پراختیا وومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زمور له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو موسسو، او نورو ملګرو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

ketabton.com - The Digital Library

فهرست

سرليکونه	مخونه
د الفبې تکرار	۱
الله (ج)	۴
حضرت محمد (ص)	٦
علم او پوهه	۸
ځای ټولول	۱۰
زمونږ ښوونځی	۱۲
ټوکه	۱۴
په ټولګي کې همکاري	۱٦
ښه زده کوونکی	۱۸
ښه ښوونکی	۲۰
هوښیار کارغه	۲۲
افغانستان	۲۴
د خپلواکۍ جشن	۲۷
بیرغ	۳۰
بوډا او پاچا	۳۲
زمونږ پیسې	۳۴
علامه سید جمال الدین افغان	۳٦
کندهار	۳۸
جرګه	۴۰
کوچیان	۴۲
د اختر ورځ	۴۴
د نیزې وهلو لوبه	۴٦
اتڼ	۴۸
یووالی	۵۰
د کال څلور فصلونه	۵۲
د اونۍ د ورځو نومونه	۵۵
پسرلی	۵۷
باران	۵۹
د اوبو منابع	٦۱
لمر	٦۳
د وخت ارزښت	٦۵
په ځنګله کې اور	٦۷
څارويې	٦۹

ketabton.com - The Digital Library

مېړه	۷۲
ټوکه	۷۴
الوتونکي مرغان	۷۶
سوی	۷۸
کورني چرګان	۸۰
د شاتو مچۍ	۸۲
مېوې او د هغو ګټې	۸۴
انګور	۸۷
سابه	۸۹
د مور عزت	۹۲
له وړو سره ټوکې کول	۹۴
د پلار حقونه	۹۶
پلاره	۹۸
د ماشوم څنګه درناوی وکړو؟	۱۰۰
ګاونډي	۱۰۲
د انسانانو درناوی	۱۰۴
د خبرو کولو ادبونه	۱۰۶
د سلام ورکولو ادبونه	۱۰۸
ډوډۍ	۱۱۰
ناولي سابه	۱۱۲
روغ پاتې کیدل	۱۱۴
ماین څه شی دی؟	۱۱۶
روغتیا	۱۱۸
واکسین کول	۱۲۰
د ځان پاکوالی	۱۲۲
د مخدره موادو زیانونه	۱۲۴
سوله او ماشومان	۱۲۶
زغم او صبر	۱۲۸
ربنتیا ویل	۱۳۰
دوستي او ملګرتیا	۱۳۲
د ستورو شمېر	۱۳۴
میږی او کوتره	۱۳۶
وېره	۱۳۸
د ښمني او دوستي	۱۴۰
زړه سوی	۱۴۲

ketabton.com - The Digital Library

د الفبې تکرار

موخه: د الفبې د تورو بڼه ، غږ، لیکل او لوستل.

پوښتنې:

(۱) ستاسو نوم په کوم توري پیل کیږي؟

(۲) دالفبې له تورو څخه کومې کلمې جوړولی شئ؟

(۳) ستاسې نوم له کومو تورو څخه جوړ شوی دی؟

ketabton.com - The Digital Library

ساعت

س ـــ س

شپیلی

ش ـــ ش

نباح

نب ـــ نب

صابون

ص ـــ ص

ضعیف

ض ـــ ض

طوطی

ط ـــ ط

ظرفونه

ظ ـــ ظ

عینک

ع ـــ ع

غوا

غ ـــ غ

فیل

ف ـــ ف

قره قولی

ق ـــ ق

کلنگ

ک ـــ ک

ګل

ګ ـــ ګ

لړم

ل ـــ ل

مار

م ـــ م

ناک

ن ـــ ن

شکونې

نې ـــ نې

وزه

و

پیاله

ه

هیلۍ

هـ ـــ هـ

منګۍ

ی

خولې

ې

څپلۍ

ۍ

ولیکئ

ئ

دوبي

ي

ketabton.com - The Digital Library

د زده‌کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې تش ځایونه په مناسبو تورو او د الفبې په ترتیب سره ډک کړي.



- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او د هرې ډلې هر غړی دې د الفبې یو توری خوښ کړي او درې کلمې چې په هغه توري باندې پیل کیږي ولیکي.

۱- _____ ۲- _____ ۳- _____

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د الفبې توري په ترتیب سره ولیکي.

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

لومړی لوست

الله (ج)

موخه: دکلمو لیکل ، لوستل او د لوی خدای (ج) پېژندنه.



پوښتنې:

(۱) مونږ چا پیداکړي یو؟

(۲) لوی خدای (ج) له مونږ نه پرته نورڅه څه شیان پیداکړي دي؟

الله (ج) ځمکه ، آسمانونه ، کاڼي ، غرونه ، انسانان، څـــاروي، الوتونکي مرغان، نباتات اوداسې نور ټول شیان پیداکړي دي.

لوی خدای (ج) ډېر مهربان او پرمونږ ډېر ګران دی.

مونږ دلوی خدای (ج) په دغو لویو نعمتونو باندې شکر وباسو او تل یې عبادت کوو.

دلغتونومعنا: کاڼي – تیږي ، مهربان–پیرزوکوونکی، عبادت–خدای(ج) یادول.

ketabton.com - The Digital Library

دزده کوونکوفعالیت:

- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او د هغو شیانو نومونه چې لوی خدای (ج) پیداکړي دي واخلي. او بیا دې هره ډله د ټولګي مخې ته راشي او د هغو شیانو نومونه دې خپلو ټولګیوالوته واخلي.
- د لاندې شکلونو له نیمګړو تورو څخه په خپلو کتابچو کې بـــشپړې کلمې جوړې کړئ.

لکه: م–ر–غـــ–ه مرغه غ – ر غ – و – ا ل – م – ر

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې د (خدای (ج)، ځمکه، آسمانونه) کلمې په خپلو کتابچو کې په تورو ووېشي.

ketabton.com - The Digital Library

دوهم لوست

حضرت محمد(صلی الله علیه وسلم)

موخه: د تورو ترکیب، تاکل او دکلمو لیکل او لوستل.

پوښتنې:

(۱) دپورتني رسم په هکله څه ویلی شئ؟

(۲) زمونږ دپیغمبر نوم څه دی؟

(۳) پوهیږئ چې قرآن کریم دلوی خدای (ج) له خوا پر چا نازل شوی دی؟

حضرت محمد(ص) زمونږ خوږ پیغمبر دی. دی د مکې په ښار کې زیږېدلی دی، او له وړوکتوب څخه یې نېک اوښه عمل درلود. حضرت محمد(ص) له ماشومانو سره ډېره مینه درلوده او ده به ویل: (هغه څوک چې پرماشومانو باندې مهرباني او د لویانو درناوی ونکړي له مونږ څخه نه دی). قرآن کریم دالله (ج) له خوا زمونږ د لارښوونې له پـــاره پـــر حضرت محمد(ص) نازل شوی دی.

دلغتونومعنا: نازل – رالېږل ، وړوکتوب–ماشومتوب ، مینه – محبت ، درناوی–احترام.

ketabton.com - The Digital Library

دزده کوونکوفعالیت:

- په متن کې څلور کلمې چې د(م) په توري پيل کيږي پيداکړئ او بيا يې په خپلو کتابچو کې وليکئ.
- د ورکړشوو توروڅخه کلمې جوړې کړئ.

م + ح + م + د = محمد

م + ی + ن + ه =

پ + ی+ غ +م+ب +ر =

د + ر + ن + ا + و+ ی=

ع + م + ل =

م+ هـــ +ر + ب+ ا+ ن =

- زده کوونکي دې په ډلو باندې ووېشل شي د هغو صفاتو په هکله دې خبرې وکړي چې دحضرت محمد(ص) د نېک عمل او له ماشومانو سره د مينې په هکله يې له لويانو څخه اوربدلې وي.

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې د لوست د متن له مخې درې کلمې پيداکړي چې په يوه کلمه کې د (د) توری په سر او په بله کلمه کې په منځ او په دريمه کلمه کې په پای کې راغلې وي.

ketabton.com - The Digital Library

دريم لوست

علم او پوهه

موخه: دتورو ترکيب ، دکلمو ليکل اودپوهې په ارزښت دزده کوونکو پوهېدل دي.

پوښتنې:

(۱) مونږ ولې درس لولو؟

(۲) لوی خدای (ج) د علم زده کړه پر چا فرض کړې ده؟

علم پوهې ته وايي. هرڅوک چې ډېر لوست ووايي هغه علم زده کوي، پوه او هوښيار انسان ترې جوړيږي.

پوه انسان د خپل ژوند چارې په سمه توګه پرمخ بيايې نورو خلکو ته يې هم ګټه او مرسته رسيږي.

نوپر مورږ ماشومانو باندې د علم زده کړه فرض ده. ځکه چې د اسلام لارښوونه ده علم په هر نارينه او ښځېنه فرض دی.

دلغتونومعنا: علم –پوهه، چارې–دندې ، مرسته – کومک.

يادونه: دعلم زده کړه په هر نارينه او ښځه فرض ده.

ketabton.com - The Digital Library

دزده کوونکوفعالیت:

- زده کوونکي دې د چوکاټ له تورو څخه کلمې جوړې کړي؟

ع	ل	م
ک	و	ر
س		
ت		
ه		

- زده کوونکي دې په ډلو باندې ووېشل شي او (پوهه، فـــرض، هوښـــيار، نارينه) کلمې دې هېجاء کړي.

فر – ض
ــــــــ
ــــــــ
ــــــــ

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې د (پوهه، انسان، ژوند) کلمې په خپلـــو کتابچو کې په تورو باندې واړوي.



ketabton.com - The Digital Library

څلورم لوست

ځای ټولول

موخه: د دې لوست موخه زده کوونکو ته په متن کې کلمې پېژندل او په عملي توګــه د فعــل ښوول، د ځای ټولول او پاک ساتل دي.

پوښتنې:

(۱) په پورتنۍ رسم کې څه ویني خبرې پرې وکړئ؟

(۲) تاسې چې سهار له خوبه پاځېږئ څه کوئ؟

(۳) ستاسې په کور کې څوک او څه کارونه کوي؟

سوسن د دوهم ټولګي زده کوونکې ده. هغه چې ســهار لــه خوبــه پاځېږي، خپل ځای ټولوي. بیا تشناب ته ځي، لاسونه مینځي، غاښونه برس کوي او مخ هم مینځي، وروسته ځي له مور، پلار، خور او ورور سره یوځای د سهار ناری خوري. له سهار ناري څخــه وروســته د ښوونځي کالي اغوندي، بیاله مور سره یوځای ښوونځي ته ځي.

دلغتونومعنا:ټولګی– صنف، ښوونځی–مکتب .

ketabton.com - The Digital Library

دزده کوونکوفعالیت:

زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او لاندې کلمې دې په تورو واړوي

۱	سوسن	۲	برس
۲	سهار	۵	غابنونه
۳	تولګي	٦	مور

لکه: احمد

ا ـ ح ـ م ـ د

هغو کلموته ځیر شئ چې کرښه ور لاندې اېستل شوې ده.

لکه: تولول، پاڅېږي ، مینځل کیږي ، کوي، خوري، اغوندي، او ځي دا تـــول فعلونه دي. دا فعلونه په لنډو جملو کې وکاروئ.

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې په لوست کې داسې کلمې پیدا کړي چې د (م) په توري پیل شوې وي.



ketabton.com - The Digital Library

پنځم لوست

زمونږ ښوونځی

موخه: د شعر له هم وزن کلمو سره د زده کوونکو بلدتیا، په ښوونځي کې د درســي وســایلو پېژندنه، د ښوونځي په ارزښت او په قواعدو پوهېدل دي.

پوښتنې:

(۱) په انځور کې څه شی وینئ؟

(۲) آیا د درسي وسایلو نومونه اخیستلی شئ؟

(۳) تېر کال مو په ښوونځي کې کوم کارونه ترسره کړي چې تاسوته په زړه پورې وو؟

ښوونځی مې دوهم کــوردی — ټولګیوال مــې لکه ورور دی
څومره ښکلې یې باغچــه ده — ســرتر پایــه تکــه شــنه ده
زه پــه مینــه ورته درومــم — فیــض دعلــم پــکې مومم
دېر زړه سواند یې معلــمان دي — مهــربانــه انســانان دي
پرمونږ هېــڅ نه په قاریــږي — لــه ګنــاهمــو راتــېریږي
څومره خوږ دوی پیمان دی — ځکــه هر یو مونږ ته ګران دی
د ښــوونکــو احتــرام کړو — پــه اخلاص ورته ســلام کړو

محمد عثمان (نژند)

دلغتونومعنا: ښکلې– ښایسته، درومم – ځم ، اخلاص – دزړه پاکوالی.

ketabton.com - The Digital Library

دزده کوونکوفعالیت:

د پورتني شعر له هم وزنه کلمو څخه بشپړې کلمې جوړې کړئ؟

ک + ور = کور

ور + ور = ورور

باغ + چه =

شـــ + نه =

درو + مم =

مو + مم =

معـــ + ل + مان =

ان + سا + نا + ن =

قا + ری + ړی =

را + تبـــ + ری + ړی =

پیـــ + مان =

ګـــ + ران =

احـــ + تـــ + رام =

ســـ + لام =

زده کوونکي دې د انځورونو نومونه په خپلو کتابچو کـــې دکرښـــې پـــه واسطه ونښلوي.



خودکارقلم

کتابچه

کتاب

کاغذ

پنسل



کمپیوټر

تخته

میز

څوکۍ

پنسل پاک

قلم تراش

کورنۍ دنده: د څو درسي وسایلو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

شپږم لوست

ټوکه

موخه: د کلمو لوستل ، لیکل او له ټوکو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنې:

(۱) ستاسې کومه ټوکه زده ده؟ خپلو ټولګیوالو ته یې ووایئ؟

(۲) آیا تاسو ته په کور کې څوک ټوکې وایي؟

یو سړی یو لیکوال ته ورغی ورته یې وویل: یولیک راته ولیکه.

لیکوال ورته وویل:

پښه مې خوږیږي. هغه سړي ورته وویل زه خو تا کوم ځای ته نه لږم اونه په پښه باندې لیکل کوې. لیکوال ورته وویل: ربښتیا وایې، خـــو افسوس هرچاته، چې لیک ولیکم، زه په خپله ورسره ځم چې زما پـــه لیک نورڅوک نه پوهیږي نو زه باید خپل لیک په خپله ولولم.

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې د (لیکوال، پښه ، لیک، ولولم) کلمې هجا کړي؟

لیکوال	لیک – وال
پښه	--- ---
لیک	--- ---
ولولم	--- ---

- د متن په لوست کې څلور کلمې پیداکړئ چې د(و) په توري پیـــل شـــوي وي؟
- زده کوونکي دې په نوبت دټولګي مخې ته راشي او یوه ټوکه دې نـــورو زده کوونکو ته واوروي؟

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې د خپلو کورنیو له غړوڅخه یوه یوه ټوکه زده کړي او سبادې په نوبت سره خپلې ټوکې نورو ټولګیوالوته واوروي.



ketabton.com - The Digital Library

اووم لوست

په ټولګي کې همکاري

موخه: دکلمو لوستل ، لیکل او په ټولګي کې همکارۍ ته د زده کوونکو هڅول دي.

پوښتنې:

(۱) په پورتني انځور کې څه وینئ؟

(۲) آیا تاسې کله له چاسره مرسته او همکاري کړې ده؟

زرغونې له ګلنارې څخه وپوښتل: تاسې په ټولګي کې له یو بل سره څه مرستې او همکارۍ کوئ؟ هغه وویل:

موږ د خپل ټولګي په پاک ساتلو کې او د میز اوڅوکیو په ترتیب او همدارنګه په فعالیتونو، لوبو او په لوستونو کې هم له یوبل ســره همکاري کوو. زرغونې وویل:

تاسې څومره ښه ټولګیوال یاست چې په ټولګي کې لکه د خپل کور په شان له یو بل سره مرسته کوئ.

دلغتونومعنا: مرستې – کومکونه، ټولګیوال – همصنفیان.

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او د ډلې هر زده کوونکی دې يــو کــار ځان ته وټاکي او ټولې ډلې دې له يو بل سره د ټولګي په نظم او پــاکوالي کې همکاري وکړي.

زده کوونکي دې د (زرغونه، ګلناره، ټولګی، پاکې) کلمې هېجا کړي.

زر – غو – نه
–––––––
–––––––––
–––––––––

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې په خپله خوښه دلوست له متن څخه پنځه کلمې خوښې او په خپلو کتابچو کې دې وليکي.

ketabton.com - The Digital Library

اتم لوست

ښه زده کوونکی

موخه: د دغه لوست د کلمو او جملو لوستل، لیکل او د زده کوونکو له ښـــو چلنـــدونو ســـره بلدتیا ده.

پوښتنې

(۱) په پورتنیو انځورونو کې څه وینئ؟ خبرې پرې وکړئ؟

(۲) ستاسو په نظر ویلی شئ چې ښه زده کوونکی چاته ویل کیږي؟

(۳) ښه زده کوونکی په خپل ټولګي کې له نورو سره څه مرستې کولی شي؟

ښه زده کوونکی سهار وختي له خوبه پاڅیږي. لومړی خپله بستره ټولوي. بیا مور او پلار ته سلام اچوي او بیا سپورت کوي. ښه زده کوونکی خپل ځان اوکالي پاک ساتي. د سهار د ناري خوړلو څخه وروسته په خپل وخت ښوونځي ته ځي. په ښوونځي کې د خپلو ملګرو سره ښه ناسته ولاړه کوي.

د ښوونکو او مشرانو درناوی کوي، خپل درسونه په ټاکلي وخت سره لولي. ښه زده کوونکی د خپلو ملګرو د نومونو سره ځان آشنا کوي او هم ځان نورو ټولګیوالوته ورپیژني.

دلغتونومعنا: ښوونکی– معلم ، زده کوونکی – شاګرد، مشران، لویان

ketabton.com - The Digital Library

د زده‌کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او د ښو زده کوونکو د صفتونو په هکله دې خبرې وکړي او بيا دې هره ډله خپل نظرونه نورو ته ووايي.

- په درکړ شوي متن کې هغه کلمې پيداکړئ چې د يو وار څخه زياتې راغلـــې وي لکه: (ملګرو)

- د هرې ډلې يو غړی دې دخپلې ډلې د ټولګيوالو نومونه نوروته ووايي؟

کورنی دنده:

د دريو يا څلورو ټولګيوالو نومونه په خپلو کتابچو کې وليکئ؟

ketabton.com - The Digital Library

نهم لوست

ښه ښوونکی

موخه: له تورو څخه دکلمو جوړول او د ښه ښوونکي په صفتونو پوهيدل دي.

پوښتنې

(۱) تاسوته ولې خپله ښوونکې ګرانه ده؟

(۲) ستاسو د ښوونکي نوم څه دی؟

(۳) تاسو له خپل ښوونکي څخه کوم شیان زده کوئ؟

زمونږ ښوونکې هره ورځ په پراخ تندي ټولګي تـــه راننـــوځي. او له مونږ سره سترې مشي کوي. مونږ هم دخپلې ښوونکې درناوی کوو.

ښوونکې زمونږ د ځان او کالیو پاکوالی ګوري. او له مونږ نه ډېره خوشحاله کيږي. هغه ټولګيوال مو چې نه وي راغلي د هغوی پوښتنه کوي. ښوونکې مونږ ته ليک او لوست زده کوي او مونږ سره لـــوبې کوي. او مونږ د هغې نه مننه کوو.

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

زده کوونکي دې د ښوونکې د ستاینو په هکله له یو بل سره خبرې وکړي.

زده کوونکي دې د (ښوونکی، لیکل، لوستل،مهرباني) کلمې په تورو ووېشي.

زده کوونکي دې له ورکړل شوو تورو څخه مناسبې کلمې جوړې کړي. (ټ – و – ل – ک – ی – و–ا –ل)

(ز – د – ه – ک – و– و– ن – ک – ی) (م – ن – ن – ه)

کورنۍ دنده: **زده کوونکي دې دخپلې کورنۍ د غړو نومونه په خپلو کتابچو کې په تورو ووېشي.**



ketabton.com - The Digital Library

لسم لوست

هوښيار کارغه

موخه: له زده کوونکو سره دکار د ښه سمون په هکله فکر پيداکيـــدل او د مناســـبو تـــدبيرونود جوړولو له پاره د دوی روزنه او د نويو کلمو زده کول دي.

پوښتني:

(۱) تاسي مخکې له دې چې په يوه کار پيل وکړئ څه بايد وکړئ؟

(۲) په پورتنيو رسمونو کې څه شی وينئ خبرې پرې وکړئ؟

کارغه چې له ډېرې تندې څخه نږدې و چې مړ شي، ناڅاپه يې يو منګي ته پام شو. کله چې منګي ته ورنږدې شو وينې چې په منګي کې لږې اوبه شته، خو مبنوکه يې اوبوته نه رسيږي.بې وزله کارغه چې هرڅومره کوښښ وکړ، خو ويې نشوای کولی چې له منګي څخه اوبه وڅښي.

ناڅاپه يې په فکر کې يوه چاره پيدا شوه. کارغه وړې وړې تيږې په خپله مبنوکه واخيستې او په منګي کې يې واچولې، څوشيبې وروسته د منګي اوبه پورته راغلې او کارغه وکولی شول چې له منګي څخه اوبه وڅښي اوځان له مرګ څخه وژغوري.

دلغتونومعنا: ناڅاپه–نابېره (دستي) ، پام–فکر ، وژغوري–بچ کړي.

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او د کېسې د مفهوم په هکله دې لـــه يوبل سره خبرې وکړي بيا دې هره ډله خپل نظريات نوروته واوروي؟

- زده کوونکي دې هغه کيسې چې د دوی زده دي د ټولګي په مخکې خپلو ټولګيوالو ته واوروي؟

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې د هوښيار کارغه کيسه خپلو ورونو او خويندو ته ووايي او سباته دې په وار سره همدغه کيـــسه نورو ټولګيوالو ته واوروي.



ketabton.com - The Digital Library

يوولسم لوست
افغانستان

موخه: د کلمو لوستل، ليکل او د افغانستان له تاريخي ځايونو سره آشنا کيدل دي.

پوښتنې:

د افغانستان د څو ښارونو نومونه واخلئ؟

۲ تاسې د افغانستان کوم ښارونه ليدلي دي؟

۳ زمونږ د هېواد د مرکز نوم څه شی دی؟

۴ زمونږ هېواد څه شيان لري نومونه يې واخلئ؟

افغانستان زمونږ خوږ اسلامی هېواد دی.

کران افغانستان ښکلي باغونه، هسک اوچک غرونه لري.

لوی ، لوی سيندونه او ارزښتمن کانونه لري.

مونږ ټول د خپل هېواد بچيان يو.

خپله خاوره او هېواد راباندې کران دی.

زمونږ د هېواد مرکز کابل دی.

د لغتونومعنا: هېواد –وطن ، هسک – لوړ او چک.

ketabton.com - The Digital Library

راځئ چې له افغانستان سره آشنا شو.







ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکوفعالیت:

- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او هره ډله دې د افغانستان د پنځو ښارونو نومونه پیداکړي او بیا دې خپلو ټولګیوالوته ووایي.

- زده کوونکي دې د لوست په متن کې درې کلمې پیداکړي چې د(ا) په توري پیل شوې وي او بیادې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(۱) _____ (۲) _____ (۳) _____

- زده کوونکي دې د هغو پنځو ښارونو نومونه چې پې واخیستل په تورو ووېشي او هر یو زده کوونکی دې دیو نوم یوتوری انتخاب کړي او بیا دې په وار سره د ټولګي په مخ کې ودریږي او زده کوونکي دې د هغه ښار نوم واخلي. (کلمه ولولئ).

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې له خپل مور او پلار څخه د لویو ښارونو پوښتنه وکړي او بیا دې د څو ښارونو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکي.



ketabton.com - The Digital Library

دوولسم لوست

د خپلواکۍ جشن

موخه: دکلمو لوستل ،لیکل او د خپلواکۍ په ارزښت پوهیدل دي.

پوښتنې:

۱ په پورتني انځور کې څه وینئ؟

۲ د خپلواکۍ په هکله څه پوهیږ ئ؟

۳ له تاسو څخه څوک دخپلواکۍ جشن نندارې ته تللی دی؟ څه چې موهلته لیـــدلي دي د هغه کیسه وکړئ.

افغانان هر کال په ټول هېواد کې د خپلواکۍ جشن لمـــانځي. د خپلواکۍ جشن زمونږ د نیکونو او پلرونو د تېرو ویاړنو د یادولو ورځ ده چې زمونږ هېواد یې له بهرنیو تیري کوونکو څخه خپلواکه کړی دی.

په دې ورځ ټول خلک خوشحالي کوي، سپورتي لوبې او په زړه پوری رسم ګذشت ویني او کنسرتونو ته ورځي.

افغانستان زمونږ کور دی او مونږ یې خپلواکي د علم او پوهې په زور او برکت ساتو.

دلغتونومعنا: خپلواکي– آزادي ، ویاړنې– ویاړېدل، افتخارات

ketabton.com - The Digital Library

راځئ چې د خپل هېواد له دودیزو لوبو سره آشنا شو.

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

زده کوونکي دې په ټولګي او یا له ټولګي څخه دباندې د دایـــرې په شکل و دریږي او ښوونکي اویاښوونکی دې د دوی نه پوښتنه وکړي چې د (خپلواک) دکلمی په پای کې کوم توری راځي اوبیا دې زده کوونکو نه وغواړي چې داسې یوه کلمه ووایـــي چـــې د (ک) په توري پیل کیږي لکه: (کـــدو) او همدارنګـــه بـــل زده کوونکی دې داسې کلمه ووایي چې د هغې کلمې د پای په توري پیل کیږي لکه: (واک) لـــومړی زده کـــوونکی **کـــدو** دوهـــم زده کوونکی **واک** دریم زده کوونکی **کور** او همداراز دې لوبې ته دوام ورکړل شي.

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې پنځه کلمې چې په ټولګي کې یـــې وویلې په خپلو کتابچو کې ولیکي.



ketabton.com - The Digital Library

دیارلسم لوست

بیرغ

موخه: زده کوونکي باید پوه شي چې زمونږ ښکلی بیرغ د یووالي نښه ده. اوهم د دې شعر ســـم لوستل او لیکل دي.

پوښتنې:

(۱) دبیرغ د ارزښت په هکله څه پوهیږئ؟

(۲) ویلی شئ چې زمونږ دګران هېواد افغانستان بیرغ څو رنګه لري؟

(۳) بیرغ زمونږ د هېواد د څه شي نښه ده؟

خوږ مې ترځان بیرغه	لـــوړ دې نښان بیرغه
تـــل مو په سر رپیږه	ملـــي آرمـــان بیرغه
ستا شهامـــت به ساتو	ستا عظمت بـــه ساتو
ته مو د پت نښـــه یې	د اسلامیت نښـــه یې
اې د افغـــان بیـــرغه	لـــوړ دې نښان بیرغه

ارواښاد محمد عثمان نژند

دلغتونومعنا: لوړ– اوچت اوجګ، تل – همیشه ، آرمان – هیله ، شهامت – مېرانه، عظمت– لویوالي، پت– عزت

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

زده کوونکي دې د (نښان، ببرغ ، شهامت، اسلامیت) کلمې هجا کړي؟

بې – رغ
_____
_____
_____

زده کوونکي دې له تورو څخه کلمې جوړې کړي او بیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(ن + ښ + ه) (ع + ظ + م + ت)

(ب + ی + ر + غ) (ا + ف + غ + ا + ن)

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې د ببرغ شعر په یادو زده کړي او په کورکې دې یې خپلو خویندو او ورونو ته ووایي؟

ketabton.com - The Digital Library

خوارلسم لوست

کښه

بوډا او پاچا

موخه: کښه پېژندل دکښې اوريدل، ويل، سم ليکل او لوستل دي.

پوښتنې:

(۱) په پورتني انځورکې بوډا څه کوي؟

(۲) نيالګي په کوم وخت کې اېښودل کيږي؟

يوه بوډا نيالګی کښاوه. يو پاچا ښکار ته روان و. بوډا يې وليد چې نيالګي کښوي. ورځخه يې پوښتنه وکړه:

(څه کوې چې په دې سپينه ږيره نيالګي کښوې؟ ته به يـــې مېـــوه وخورې،که نه؟

بوډا موسکی شو او ورته يې وويل: (نورو وني کښولې وې، مونږ يې مېوه وخورې،اوس يې مونږ کښوو چې نور يې مېوه وخوري.)

پاچا د بوډا په خبره خوښ شو او انعام يې ورکړ.

د لغتونومعنا: بوډا– زوړ ، موسکی– په خندا ، انعام– بخښش

ketabton.com - The Digital Library

دزده کوونکو فعالیت:

زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او هره ډله دې لاندې کلموتـــه پـــام وکړي، هغه کلمې چې دځلورو تورونه جوړې شـــوې دي ورلانـــدې دې ځلور او هغه کلمې چې له دريو تورو نه جوړې شوېدي ترلاندې دې درې وليکي.

خوښ وکړه پاچا يوه کيسه مونږ انعام ږيره روان

اوس ښکار بوډا نور څخه خوري مېوې وليد وويل

زده کوونکي دې له لاندې تورو څخه کلمې جوړې کړي.

(۱) پ + ا + چ + ا = پاچا

(۲) ب + و + ډ + ا = [ ]

(۳) ن+ی+ا+ل+ګ+ی= [ ]

(۴) م + ی + و + ه = [ ]

(۵) ا + ن + ع + ا+م = [ ]

(۶) و + ل + ی + د = [ ]

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې له خپل مور او پلار نه وغواړي چې يوه کيسه ورته ووايي اودوی دې دهغې کيسې اتل پيداکړي اوسبادې هماغه کيسه له اتلانو سره خپلو ټولګيوالوته ووايي.



ketabton.com - The Digital Library

پنځلسم لوست

زمونږ پيسې

موخه: دکلمو لوستل، ليکل او دافغانۍ پېژندنه ده.

پوښتنې:

(۱) په پورتني انځور کې څه شی وينئ؟

(۲) پيسې دځه شي له پاره پکاريږي؟

(۳) آيا تاسو په پيسو کوم شيان اخيستلی شئ؟

(۴) زمونږ دهېواد پيسې څه نومېږي؟

زمونږ دهېواد پيسې افغانۍ نومېږي، زه دپيسو په شمېرلو پوهېږم. دژوند اړتياوې لکه: خواړه، پوښاک، دکور لوښي اوداسې نور دپيسو په واسطه لاس ته راځي (زمونږ هېواد دپيسو دساتنې له پاره بانکونه هم لري. زما مور دپيسو دساتنې له پاره يو ډاډمن بکس لري) زه هم دپيسو دزېرمه کولو له پاره يوه قوتۍ لرم چې خپلې پيسې په کې ساتم.

دلغتونومعنا: اړتياوې – ضرورتونه، زېرمه – ذخيره

ketabton.com - The Digital Library

دزده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې دلوست په متن کې درې داسې کلمې را پیداکړي چې د(ب) په توري پیل شوي وي. اوبیادې په لاندې تشو کربنو باندې ولیکي.

① _____ ② _____ ③ _____

- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او هره ډله دې دلوست له متن څخه پنځه کلمې غوره کړي او بیادې په تورو وویشي.

- زده کوونکي دې د هغو شیانو په هکله چې دپیسو په واسطه لاس ته راځي له یوبل سره خبرې وکړي او بیادې خپلو نورو ټولګیوالو ته معلومات ورکړي.

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې د(پیسې، افغانۍ، شمېر) کلمې هېجا کړي.



ketabton.com - The Digital Library

شپاړسم لوست

علامه سید جمال الدین افغان

موخه: زده کوونکي باید دخپل هېواد ملي شخصیتونه وپېژني او دا متن دې سم ولولي او سم دې وليکي.

پوښتنې:

(۱) تاسو د علامه سید جمال الدین افغان نوم اوربدلی دی؟ که مو اوربدلی وي له چاڅخه اوچېرې؟

(۲) په انځور کې دچا انځور وینئ دهغه نوم ووایئ؟

(۳) تاسې د علامه سید جمال الدین افغان په هکله څه پوهیږئ؟

علامه سید جمال الدین افغان دسید صفدر زوی اوزمور دهېواد په کونړ ولایت کې زیږیدلی دی.

له ماشومتوب څخه یې له علم اوپوهې سره مینه درلوده او زمور دهېواد یو نامتو لیکوال او پوه سړی و. زمور دهېواد دپرمختګ او دمسلمانانو دیووالي له پاره یې ډیرې هلې ځلې کړې دي.

دپر کتابونه او مجلې یې لیکلي اوچاپ شوي دي.

ketabton.com - The Digital Library

دزده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او هره ډله دې لاندې کلمې په تورو باندې واړوي.

(کونړ ، ا فغان ، هېواد، نامتو، مجلې)

- زده کوونکي دې دمتن په لوست کې درې داسې کلمې پیداکړي چې د(س) توری دکلمې په سرکې راغلي وي. لکــه: (ســید) اوپــه خپلوکتابچو کې دې ولیکي.

① _____ ② _____ ③ _____

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې دخپلو کورنیو لــه غــړو ســره د علامه سیدجمال الدین افغان په هکله خبرې وکړي.



ketabton.com - The Digital Library

اوو لسم لوست

کندهار

موخه: له تورو څخه دکلمې جوړول، دکلمې په تورو اړول اودکندهار د تاریخي ښار پېژندنه ده.

پوښتنې:

۱ په پورتني انځورکې څه شئ وینئ؟

۲ تاسې دخپل هېواد دیو تاریخي ولایت نوم اخیستلی شئ؟

۳ آیا تاسې کوم وخت کندهار ته تللي یاست؟ که تللي یاست څه مو لیدلي دي؟

کندهار زمونږ دګران هېواد ډېر پخوانی او ښکلی ښاردی. په دې ښار کې یو ډېر سپېڅلی ځای دی چې د (خرقې مبارکې) په نامه یادیږي. په دې ځای کې دحضرت محمد(ص) (مبارکه خرقه) ساتل کیږي او ډېر خلک یې لیدوته ورځي.

دلغتونومعنا: سپېڅلی- سوتره

ماخذ: خپل هېواد وپېژنئ، د افغان نشراتي اداره (انا)

ketabton.com - The Digital Library

دزده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او په شکل کې دې له ورکړل شـــوو تورو څخه نوموړې کلمې جوړې کړي.

۱- مبارک

۲- کندهار

۳- هېواد

۴- ګران

				م	ب	ا	ر	ک
								ن
								د
د	ا	و	ي	هـ				
				ا				
				ر				
ن	ا	ر	ک					

- زده کوونکي دې لاندې کلمې په تورو واړوي.

(احمد شاه، چپنه ، خرقه ، جومات)

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې دافغانستان دپنځو ولایتونو نومونه په خپلو کتابچو کې وليکي.

ketabton.com - The Digital Library

اتلسم لوست

جرګه

موخه: دکلمو لوستل ، لیکل ، دمترادفې کلمې پېژندل او دملي دودونو په ارزښت پوهیدل دي.



پوښتنې:

(۱) په پورتني انځورکې څه وینئ؟

(۲) که ستاسود دوولګرو ترمنځ په کوم شي باندې کومه لانجه پیداشي تاسې څه کوئ؟

(۳) تاسې خپلې لانجې څه ډول حل کوئ؟

کله چې ستاسو دټولګیوالو ترمنځ په کتاب او یاداسې نوروشیانو باندې کومه لانجه رامنځ ته شي. که تاسو دنورو ملګرو له خوا دهغوی ترمنځ دیوې غونډې په واسطه روغه جوړه وکړئ. دې ته جرګه وایي.

زمورږ لویان او مشران هم دخپل کلي او هېواد لانجې په جرګو حل کوي ، جرګه زمونږ پخوانی دود دی او مورږ باید دجرګې پریکړوته درناوی وکړو.

ketabton.com - The Digital Library

دزده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې دحلقې یا کړۍ په شکل په ټولګي اویا دټولګي نــه دبانــدې کښې او دوی ته دې یوه لانجه وښودله شي، دمثال په توګه: (کتــاب یــو دی زمری او توریالی دواړه په یو وخت کې کتاب غــواړي.) زده کــوونکي دې دجرګې په واسطه داسې پربکړه وکړي چې دتوریالي یا دزمري په خپګان تمامه نه شي.

- زده کوونکي دې نورې داسې ستونزې جرګې ته وړاندې کــړي او دوی دې دحل لاره ورته پیداکړي.

- دلاندې مترادفو کلمو معنا له چوکاټ څخه پیدا او دکلمو مخې ته یې ولیکئ.

همصنفیان، جګړه، مرکه، احترام

جرګه _____ ټولیګوال _____ لانجه _____ درناوی _____

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې دکور له غړو څخه دجرګې په هکله ساده معلومات وغواړي؟



ketabton.com - The Digital Library

نولسم لوست

کوچیان

موخه: د متن سم لوستل، لیکل او د زده کوونکو په دې پوهېدل چې کوچیان څنګه ژوند کوي.

پوښتنې:

۱ په پورتني انځور کې څه شی وینئ؟

۲ کوچیان کوم څاروي ساتي؟

۳ کوچیان چېرته ژوند کوي؟

کوچیان په کیږدیو کې ژوندکوي.

دوی میږې، وزې اوښان او نور څاروي ساتی.

کوچیان په ژمي کې تودوسیموته ځي.

کوچیان داوړي موسم کې په سړوسیمو کې ژوند کوي.

ځوندی کوچی شپون دی.

کوچیان ډېر صادق خلک دي.

کاخذ: دپښتو زده کړې اساسي قابلیتونه.

ketabton.com - The Digital Library

دزده کوونکو فعالیت:

- پورتنی لوست دځه شي په هکله دی؟ سم ځواب په نښه کړئ.

_____ دکوچنیانو

_____ دکوچیانو

_____ دماشومانو

- کوچیان په اوړي چېرې ځي؟ سم ځواب په نښه کړئ.

_____ تودوسیموته

_____ سړو سیموته

- په چوکاټ کې دلاندې کلمو معنا وې پیداکړئ.

سیمې	کیږدی	صادق
( ) ځایونه	( ) خیمه	( ) درواغجن
( ) ښارونه	( ) کوټه	( ) رښتینی
( ) غرونه	( ) څېره	( ) هوښیار

کورنۍ دنده: لوستل شوی متن په خپلو کتابچو کې په ښکلي لیک سره ولیکئ، زده کوونکي دې د(ځایونه، خیمو،کلمو، سیمو) کلمې په تورو وویشي.



ketabton.com - The Digital Library

شلم لوست

د اختر ورځ

موخه: چې زده کوونکي دنېکمرغه اومبارکو ورځو په لمانځلو اویادولو پوه شي او ددې لوســـت دمتن لوستل او لیکل زده کړي.



پوښتنې:

۱ په پورتني انځورکې څه وینئ؟ خبرې پرې وکړئ.

۲ مسلمانان په کال کې څو اخترونه لري او اختر په ورځو کې څه کوي؟

۳ تاسې اختر په ورځ کې څه کوئ؟

مسلمانان په یو کال کې دوه اخترونه لري.

چې یو یې دکوچنې اختر او بل یې دلوی اختر په نامه یادیږي. اختر په شپه ماشومان، نجونې او ښځې ټول خپل لاسونه ســـره کوي او خوشحالي کوي. زمونږ خلک اختر په ورځ نوي کالي اغوندي ، نارینه اختر دلمانځه له پاره لویو جوماتونو ته ځي او اختر لمونځ کوي. بیا له خپلو ماشومانو سره یوځای د دوستانو اوګاونډیانو کورونو ته ځي او له هغوی سره اختر مبارکي کوي.

ketabton.com - The Digital Library

دزده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې دلاندې چوکاټ له تورو څخه کلمې جوړې کړي.

ن	ا	ن	ا	م	ل	س	م
			خ	ا	ا		
			ت	ش	س		
			ر	و	و		
				م	ن		
				ا	ه		
				ن			

- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي، داختر په هکله دې له یوبـــل ســـره خبرې وکړي اوبیادې هره ډله خپل نظریات نورو ته واوروي.

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې داختر، کالي ، بڼه) کلمې په تورو ووېشي.

ketabton.com - The Digital Library

يو ويشتم لوست

د نيزې وهلو لوبه

موخه: دکلمو لوستل ، ليکل او دنيزې وهلو دلوبې پېژندنه ده.

پوښتنې:

(۱) په پورتني انځور کې څه شی وينئ؟

(۲) آيا تاسو دنيزې وهلو لوبه ليدلې ده؟ که مو ليدلې څه ډول لوبه ده؟

(۳) نورې کومې لوبې پېژنئ؟

(۴) دنيزې وهلو لوبه څه ډول لوبه ده؟

دنيزې وهلو لوبه يوه په زړه پورې لوبه ده.

چې زمونږ دهېواد په ځينو سيمو کې ډېر دود لري.

په دغه لوبه کې دآس سپريدونکي په ډېر مهارت او چټکتيا سره په ځمکه کې وهل شوی موږی دنيزې په څوکه له ځمکې څخه راپورته کوي اودجايزې وړونکی شميرل کيږي. زمونږ خلک له دغې لوبې سره ډېره مينه لري او دهغې سيل ته ورځي.

ketabton.com - The Digital Library

دزده کوونکو فعالیت:

زده کوونکي دې په لاندې کلمو کې هغه کلمې چې له دریو تورو څخــه جوړې شوې دي په خپلو کتابچو کې درې او هغه چې له څلــورو تــورو څخه جوړې شوې وي څلور ولیکي.

مینه	سیل	دغه	زړه	دود	لوبې	سره
ورځې	نیزې	ډېره	لرې	هغه	ځمکه	ډېر

کورنۍ دنده: تاسې د لاندې بېلا بېلو لیکل شوو تورو څخه بشپړې کلمې جوړې کړئ.



(ن + ی + ز + ي) (م +و +ړ +ی)

(څ + م + ک + ه)

ketabton.com - The Digital Library

دوه ويشتم لوست

اتڼ

موخه: دکلمو لوستل ، ليکل او دخپل هېواد له دودونو سره آشنا کېدل دي.

پوښتنې:

(۱) په پورتني انځور کې څه وينئ؟

(۲) آيا تاسو کله اتڼ ليدلی دی؟ که مو ليدلی وي څه وخت اوچېرته؟

(۳) خلک په کوم وخت کې اتڼ کوي؟

(۴) تاسې کومې دموسيقي آلې پيژنئ؟

اتڼ د افغانانو ملي دود دی. افغانان له اتڼ سره مينه لري.
دوی ملي او تاريخي ورځې په اتڼ کولو لمانځي.
په اتڼ کې دهول او سُرنۍ غږول کيږي.
دهولچي او سُرنچي د اتڼ نغمې غږوي. او افغانان ورته ښکلی اتڼ کوي.

د لغتونومعنا: ملي – ولسي ، دود – رسم او رواج

ketabton.com - The Digital Library

دزده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او لاندې ورکړل شوې کلمې دې په تورو واړوي. (افغانان ، اتڼ ، ملي، ډول ، سُرنۍ)
- زده کوونکي دې په چوکاټ کې له ورکړل شوو تورو څخه کلمې جوړې کړي.

ا	ف	غ	ا	ن
ډ	و	ل		
س	ر	ڼ	ۍ	
ا	ت	ڼ		
م	ي	ن	ه	

= افغان

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې د (اتڼ ، سُرنۍ ، نغمې) کلمې په تورو وويشي.

ketabton.com - The Digital Library

دروېشتم لوست

يووالی

موخه: د کلمو لوستل ، ليکل او د يووالي او اتفاق په کتو پوهېدل دي.

پوښتنې:

۱. په پورتنيو رسمونو کې څه وينئ؟
۲. ستاسو په نظر داخلک څه کوي؟
۳. تاسې ته په کور کې څوک کيسې کوي؟
۴. آيا ستاسو کومه کيسه زده ده؟ که مو زده ده خپلو ټولګيوالوته يې واوروئ؟

يوه سپين ږيري سړي د ځنکدن په وخت کې خپل زامن راوغوښتل. هغوی ته يې دکوچنيو لرګيو يوه ګډۍ ورکړه ترڅو يې ماته کړي ، ټولو زامنو يې په خپل وار سره دلرګيو پر ګډۍ خپل زور وکړ. د لرګيو ګډۍ يوه هم ماته نه کړه.

بيا سپين ږيري سړي ګډۍ واخيسته او هغه يې خلاصه کړه. يو يو لرګی يې په خپله مات کړ او زامنو ته يې وويل: که چېرې تاسې په خپل مينځ کې اتفاق ولرئ، نوهېڅکله به هم مات نه شئ اوکه چېرې مو په خپل مينځ کې بې اتفاقي پيداشوه،

ماخذ: افغان نشراتي اداره (انا).

ketabton.com - The Digital Library

نوماغوندي سپين ږيرى اوكمزورى به هم تاسو د دې لرګيو پـــه څېر مات او له مينځه يوسي.

د لغتونومعنا: اتفاق – يووالى ، په څېر – په شان

د زده كوونكو فعاليت:

زده كوونكي دې د لوست له متن څخه داسې كلمې پيداكړي چې د (س) توری په كې راغلى وي او بيا دې په خپلو كتابچو كې وليكي.

زده كوونكي دې له ورکړل شوو تورو څخه كلمې جوړې كړي.

(١) ل + ر + ګ + ي + و = ☐

(٢) ځ + ن + ک + د + ن = ☐

(٣) م + ا + ت = ☐

(٤) ا + ت + ف + ا + ق = ☐

(٥) ز + ا + م + ن = ☐

(٦) س + ړ + ي = ☐

كورنۍ دنده: زده كوونكي دې د متن دوې جملې په ښكلي ليک پـــه خپلو كتابچو كې وليكي.



ketabton.com - The Digital Library

څلورويشتم لوست
دکال څلور فصلونه(موسمونه)

موخه: دکال پيژندل،دکال دفصلونواو مياشتو د نومونو پيژندل او د دې لوست د مـــتن ليکـــل او لوستل دي.

پوښتنې:

(۱) آيا کومې شئ چې په پورتنيو انځورونو کې د اوړي فصل وښيئ؟
(۲) پوهيږئ چې يو کال څو فصله لري؟
(۳) ويلی شئ چې هر فصل څو مياشتې دی؟
(۴) داوړي دمياشتو نومونه کوم دي؟

يوکال څلور موسمه لري. هر موسم ته يې فـــصل وايـــي لکـــه: (پسرلی، دوبی، منی، ژمی) دپسرلي فصل درې مياشـــتې دی: وری (حمل) ، غويی (ثور) غبرګولی (جوزا). په دې فصل کې بارانونـــه اوري. دوبی هم درې مياشتې دی: چنګاښ (ســـرطان) ، زمـــری (اسد) وږی (سنبله) په دې موسم کې هوا توده وي.

منی هم درې مياشتې دی: تله (ميزان) ، لړم، (عقرب) ، لينـــدی (قوس) په دې فصل کې هوا ورو ورو سړيږي.

ژمی هم درې مياشتې دی: مرغومی (جدي) ،سلواغه (دلو) کب (حـــوت) په دې فصل کې کله کله واوره وريږي.

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

زده کوونکي دې د چوکاټ تش ځایونه په مناسبو کلمو سره ډک کړي.



فصل	لومړی میاشت	دوهمه میاشت	دریمه میاشت
پسرلی			
	چنګاښ	زمری	وږی
منی			
	مرغومی	سلواغه	کب

دوولس زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او هر زده کوونکي ته دې د یوې میاشتې نوم ورکړل شي او بیا دې هر زده کوونکی دټولګي مخې ته ودریږي او خپل نوم دې په زوره واخلي چې ټول یې واوري او بیا دې د میاشتو په ترتیب ودریږي.

په پای کې دې درې زده کوونکي په ځای ودریږي چې دکال یو فصل وروښیي.

ketabton.com - The Digital Library

زده کوونکي دې د انځورونو د فصلونو نومونه او د فصلونو نومونه د کرښې په وسیله ونښلوي.



کورنۍ دنده: زده کوونکي دې دکال د یوه فصل د میاشتو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکي.



ketabton.com - The Digital Library

پنځه ویشتم لوست

د اونۍ د ورځو نومونه

موخه: د یوې اونۍ د نومونو پېژندل، او د دې لوست دکلمو لوستل ، لیکل او زده کول دي.

پوښتنې:

(۱) ویلی شئ چې یوه اونۍ څو ورځې ده؟

(۲) تاسې د اونۍ نومونه واخلئ؟

(۳) تاسې په یوه اونۍ کې کوم کارونه کوئ؟

شنبه ، یکشنبه، دوشنبه، سه شنبه، چهار شنبه، پنجشنبه او جمعه. د یوې اونۍ د ورځې نومونه دي.

مور په اونۍ کې شپږ ورځې ښوونځي ته ځو. د جمعې په ورځ ټول خلک رخصت وي. دوی په خپلو کورونو او نورو ځایونو کې خوشحالي اوساعتیري کوي. مور هم له خپلو کورنیو سره دجمعې په ورځ د سیل ځایونو ته ځو او د ستړیا د لرې کولو له پاره هلته له خپلې کورنۍ سره مېلې کوو.

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې په ډلو باندې ووېشل شي او بيا دې د اونۍ د ورځو نومونه په تورو وويشي.

۱ شنبه (ش + ن + ب + ه)		۵ چهارشنبه (	)
۲ یکشنبه (	)	۶ پنجشنبه (	)
۳ دوشنبه (	)	۷ جمعه (	)
۴ سه شنبه (	)		

- زده کوونکي دې په ورکړل شوي متن کې داسې بېشپړې کلمې پيداکړي چې د(ش) توری په کې راغلی وي اوبيا دې په خپلو کتابچو کې وليکي.

۱ شپږ _____ ۲ _____ ۳ _____

۴ _____ ۵ _____ ۶ _____

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې د اونۍ د ورځو نومونه په تورو وويشي.

ketabton.com - The Digital Library

شپږ ویشتم لوست

پسرلی

موخه: دکلمو لوستل ، لیکل او د پسرلي دکتو په ارزښت پوهېدل دي.

پوښتنې:

(۱) پسرلی دکال کوم فصل دی؟
(۲) په پورتنو انځورنوکې کوم فصل وینئ؟
(۳) په پسرلي کې بزګر څه کوي؟
(۴) بلبلې او چنچنې چېرې چغېږي؟
(۵) شپانه څه شی پیایي؟
(٦) تاسې په پسرلي کې کوم کارونه کولای شئ؟

پسرلی د کال لومړی فصل دی، په دغه فصل کې هوا ښه وي، د غرو لمنې او دښتې په شنو بوټو او رنګارنګ ګلانو ښایسته وي، بلبلې او چنچنې په باغونو کې چغېږي او په ونو کې ځالې جوړوي، بزګران په خپلو ځمکو او باغونو کې کار کوي.

د لغتونومعنا: فصل – دکال موسم ، بوخت – لګیا

ketabton.com - The Digital Library

کوچیان شنو دښتو او د غرو لمنو ته ځي. او هلتـــه ژونـــد کوي، شپانه رمې پیایي، ماشومان د خپلو زده کـــړو لـــه پـــاره ښوونځي ته ځي هرځوک په خپل کار بوخت وي.

دزده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او هره ډله دې د هغو مېـــوو او نورو شیانو په هکله خبرې وکړي چې په پسرلي کې پیدا کیږي، بیا دې د دریو مېوو نومونه واخلي چې په پسرلي کې پیدا کیږي.

① _____ ② _____ ③ _____

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې دخپلو کورنیو له غړیو سره د پسرلي په ځانګړتیاوو خبرې وکړي او سبا دې خپل نظریات ټولګي والو ته ووایي.

ketabton.com - The Digital Library

اووه ویشتم لوست

باران

موخه: د باران په ګټو پوهېدل او د دې لوست لوستل او لیکل دي.

پوښتنې:

(۱) په باراني ورځو کې له څه شیانو څخه ګټه اخلئ ترڅو لانده نشئ؟

(۲) دباران له اوبو څخه څه ګټه اخیستل کیږي؟

(۳) که باران ونه وریږي څه کیږي؟

بـــارانه ښـــه وربږه

زما پـــه زړه وربږه

ګلونه سمه غـــرکړه

په سمه غـــره وریږه

باران هـــوا پاکوي

باران فضـــا پاکوي

دوړې ګردونه پاک شي

باران دنیا پاکـــوي

(اروابناد روغمن)

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او بیادې دباران دکتو په هکله خبرې وکړي.

- زده کوونکي دې د شعر له مخې اته (۸) کلمې پیداکړي چې لـــه دریـــو توروڅخه جوړې شوې وي.

۱ پاک	۲ _____	۳ _____	۴ _____
۵ _____	۶ _____	۷ _____	۸ _____

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې له لاندې تورو څخه کلمـــې جوړې کړی. (ب + ا + ر + ا + ن) (و + ر + ی + ړ + ه)

(ف + ض + ا)

(پ + ا + ک + ه)



ketabton.com - The Digital Library

اته ويشتم لوست

د اوبو منابع

موخه: د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د اوبو زېرمې (منابع) وپېژني او د هغــو پــه ارزښت پوه شي او دا لوست سم ولولي او ويې ليکي.

پوښتنې:

۱ پاکې اوبه چېرې پيداکيږي؟

۲ تاسې د ورځې څو ځلې اوبه څښئ اوپه څه شي کې يې څښئ؟

۳ د پاکو اوبو څښل څه ګټه لري؟

اوبه په څاه ګانو، کاريزونو، چينو، نلونواو داســې نــورو ځايونو کې هم پيداکيږي، دځاه ګانو، نلونو اوبه پاکې اورنې وي ځکه چې اوبه يې محفوظې وي. که غواړو چې اوبــه پــاکې او صحي شي بايد وجوشول شي اوبيا وڅښل شي.

انسانان، څاروي،مرغان، او نباتات اوبوته اړتيا لري. کــه چېرې اوبه نه وي ژوند هم نه کيږي هر سړی بايد د اړتيا له مخې په ورځ کې څو ځلې اوبه وڅښي. په پاک ګيلاس کې اوبه څښل ښه کار دی د پاکو اوبو څښل روغتيا ته ګټه رسوي.

د لغتونومعنا: منابع – زيرمې ، رنې – روښانه ، څاروي – حيوانات

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې د لوست متن ولولي او هغه کلمې چې د چوکاټ په تورو پیل کیږي په خپلو کتابچو کې بشپړې کړي.

ن	پ	چ	ا

- په ورکړل شویو کلمو کې هغه کلمه چې په متن کې دوه ځلې راغلې وي په تشو ځایونو کې ولیکئ.

(۱) نلونو _____ (۴) _____

(۲) _____ (۵) _____

(۳) _____ (٦) _____

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې د لوست له متن څخه دوې کلمې خوښې کړي او بیا دې سباته په تختې باندې په تورو وویشي.

ketabton.com - The Digital Library

نهه ویشتم لوست

لمر

موخه: چې زده کووکي د لمر د ګټو په ارزښت وپوهيږي. او د لمر شعر سم ولولي او ويې ليکي.

پوښتنې:

(۱) د لمر د ګټو په هکله څه پوهيږئ؟

(۲) لمر له کوم خواڅخه راخيژي او کوم خواته لويږي؟

(۳) مونږ لمر ته ولې اړتيا لرو؟

زه ځلانده لمر يمـــه
ښکـــلی منور يمـــه
***
ساړه لـــرې کومـــه
تودوخـــه راولمـــه
***
تيارې پسې رڼا يمـــه
ملګری د هرچا يمـــه
***
ګلان راته خنداکوي
ناڅې اوموسکا کوي
زه د ژوند خبـــريمه
ښکلی منـــور يمه

ارواښاد محمد عثمان نژند

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

زده کوونکي دې له تورو څخه کلمې جوړې کړي.

۱	غ+ل+ا+ن+د+ه =		۴	ت+و+د+و+خ+ه =	
۲	ښ + ک + ل + ی =		۵	ر + ې + ا =	
۳	س + ا + ړ + ه =		۶	م + و + س + ک+ا =	

زده کوونکي دې په شعر کې داسې کلمې پیداکړي چې له یو وار څخـــه زیاته راغلې وي.

۱ _____ ۲ _____ ۳ _____ ۴ _____ ۵ _____

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې د (ښکلي ، ځلانده ، لمر) کلمې په تورو ووېشي.

ketabton.com - The Digital Library

ديرشم لوست

د وخت ارزښت

موخه: د وخت پېژندل، په ارزښت پوهېدل، د وخت نه په سمه توګه ګټه اخيستل او د متن لوستل اوليکل دي.

پوښتنې:

(۱) کله چې په کور کې ياست څه کوئ؟

(۲) آيا د خپلو کارونو د سرته رسولو له پاره له مهال وېش څخه ګټه اخلئ؟

(۳) تاسې د وخت څخه څه ډول ګټه اخلئ؟

ما د ورځنيو کارونو د سرته رسولو له پاره په کور کې مهال وېش جوړ کړی دی. چې د هغه له مخې خپلې دندې لکه: د درسونو لوستل او د کورنۍ دنده چې ښاغلی ښوونکی يې مونږ ته راسپاري په منظمه توګه سرته رسوم. همدارازد کور په چاروکې هم برخه اخلم او له خپلې کورنۍ سره مرسته کوم. زه په تاکلي وخت د تلويزيون خپرونې په مينه ګورم او له هغه څخه خوند اخلم. له هغه وروسته بيا له خپل ګاونډي ملګري سره لوبې هم کوم. زه له وخت څخه پوره ګټه اخلم. او خپل ارزښتناکه وخت خوشې نه تېروم. څوک چې خپل وخت خوشې تېروي په ژوند کې به له نورو وروسته وي.

ketabton.com - The Digital Library

ګرانو زده کوونکو! وخت لکه سره زر دی باید له وخت نه سمه ګټه واخلئ. ترڅو د راتلونکي نېکمرغه ژوند خاوندان شئ.

د زده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي ، هره ډله دې ځان ته یو مهال وېش جوړ کړي او د خپل مهال وېش په هکله دې زده کوونکوته خرګندونې وکړي.
- زده کوونکي دې د لاندنیو تورو څخه کلمې جوړې کړي.

(۱) (ا+ر+ز+ښ+ت ☐ (۲) (م+ن+ظ+م+ه) ☐ (۳) (ک+و+ر+ن+ی) ☐

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې د لوست د متن له مخې څو کلمې غوره کړي اوبیا دې په تورو وویشي.

ketabton.com - The Digital Library

يو دبرشم لوست

په ځنګله کې اور

موخه: دکلمو لوستل، ليکل او زده کوونکي بايد په دې پوه شي چې پياوړې اراده له مونږ سره مرسته کوي چې په ستونزو باندې بريالي شو.

پوښتنې:

(۱) په پورتنيو انځورونو کې څه شی وينئ او هغوی څه کوي؟

(۲) آيا کوم وخت له کومې ستونزې سره مخامخ شوي ياست؟
اوبيامو ستونزه څه ډول له منځه وړې ده.

(۳) تاسې دستونزو د له منځه وړلو له پاره څه کولی شئ؟

په يوه ځنګله کې ډول، ډول ځناورو ژوند کاوه. يوه ورځ ځنګله اور واخيست. ټول ځناور په تېښته شول، خومېرېانو د اور خواته ور ودانګل. پيل له يوه ميرۍ څخه وپوښتل چې تاسو نه تښتئ؟ ميرۍ وويل: نه! مونږ غواړو چې اور ووژنو، دميرۍ خبرو پيل په سوچ کې کړ، دنورو حيواناتو مخه يې ونيوله او ويې ويل: مونږ بايد اور مړ کړو! ټولو ورسره ومنله او له سيند څخه يې اوبه راوړې. او اوريې په ګډه مړ کړ. ټول له پيل نه خوښ شول. پيل ته يې سوغات برابر کړ او دهغه کورته يې يوړ خو پيل سوغات ونه مانه او ويې ويل: دا سوغات دميرۍانو حق دی.

ماخذ: په ځنګه کې اور، افغان نشراتي اداره (انا)

ketabton.com - The Digital Library

له هغې ورځې وروسته ټولو ځناورو میږیانو ته درناوی پیـــل کړ. نوګرانو زده کوونکو! پیاوړې اراده له مونږ ســـره مرســـته کوي چې پر ستونزو بریالي شو.

د لغتونومعنا: سوچ– فکر ، پیاوړی – قوي او غښتلی ، ستونزې – مشکلات

دزده کوونکو فعالیت:

زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او د لوست له مخې دې اته کلمـــې چې له دریو تورو څخه جوړې شوې وي په خپلو کتابچو کې ولیکي.

۱ پیل	۲ _____	۳ _____	۴ _____
۵ _____	۶ _____	۷ _____	۸ _____

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې داکښه خپلو دوستانو او یا دکور غړو ته وکړي او بیا دې له دوی څخه وغواړي چې که چېرې د هغـــوی کومه کیسه زده وي هغه دې ورته ووایي او سباته دې زده کوونکي په ټولګي کې هماغه کیسه ووایي.



ketabton.com - The Digital Library

دوه دېرشم لوست

څاروي

موخه: دځاروِيو د نومونو پېژندل،لوستل ،ليکل اود هغو په کټو پوهېدل دي.



پوښتنې:

(۱) په پورتنيو انځورونوکې کوم څاروي وينئ نومونه يې واخلئ؟

(۲) له کورنيو څارويو څخه کومې کټې اخلو؟

زمونږ د هېواد خلک ډول، ډول څاروي ساتي لکه: غواوې ، مېښې، آسونه، مېږې ، وزې ، پسونه او نور.

دځينو څارويو له غوښو څخه د خوړلو له پاره کټه اخلي اوله شيدوڅخه يې مستې، کوچ، شړومبې، غوړي، کرت، پنير، او پوڅې جوړوي چې خوړل يې د بدن د روغتيا له پاره ډېر ضروري دي.

دځينو څارويو له پوستکو څخه بوټونه، بکسونه او نور شيان جوړيږي. له وړيو څخه يې غالۍ، ټغر، ليمڅې، بنيانونه او داسې نور شيان جوړوي.

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکوفعالیت:

- زده کوونکي دې په ډلو کې دکورنیو څارویو دګټو په هکله خبرې وکړي.

- زده کوونکي دې د شپږو کورنیو څارویو نومونه چې له انـــسانانو ســـره عادت شوي، ولیکي.

① _____ ② _____ ③ _____ ④ _____

⑤ _____ ⑥ _____

ketabton.com - The Digital Library

زده کوونکي دي په وړو ډلو کې رسمونه له نومونو سره یوځای دکرښې په واسطې سره ونښلوي



کورنۍ دنده: زده کوونکي دي د هغو څارویو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکي چې د هغوی خوښ دي.



ketabton.com - The Digital Library

درې دېرشم لوست

مېږه

موخه: د متن لوستل، لیکل په متن کې د متضادو کلمو پیژندل د مېږې د ګټو په ارزښت پوهېدل دي.

پوښتنې:

(۱) په پورتني انځور کې کوم څاروی وینئ نوم یې واخلئ؟

(۲) تاسو مېږه پیژنئ مېږه څه ډول حیوان دی؟

(۳) تاسو پوهیږئ چې له مېږې څخه کومې ګټې اخیستل کیږي؟

مېږه له کورنیو څارویو څخه ده. زمور خلک دغه څاروي په خپلو کورونو کې ساتي. د دغه څارویو روزنه ډېرې ګټې لري. له غوښو څخه یې دخوړلو له پاره ګټه اخلو او له شیدوڅخه یې کوچ، رش، پنیر، مستې، غوړي اوکرت لاس ته راځي چې خوړل یې د بدن د روغتیا له پاره ډېره ګټه لري. همدارنګه له وړیو څخه یې، غالۍ، ټغرونه، او د اغوستلو توکي تر لاسه کیږي. له پوستکو څخه یې ډول ، ډول بوټونه، بکسونه، خولې او نورشیان جوړیږي.

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

- دهرې ډلې زده کوونکي دې د مېږو په باره کې د سترګو لیدلي حالونه بیان کړي.

- زده کوونکي دې د مېږو له شیدو، غوښو، وړیو او پوستکي څخه د ګټې اخیستلو لارې د ټولګي په مخکې ووایي.

- زده کوونکي دې د لوست په متن کې درې داسې کلمې پیداکړي چې په (غ) توری پیل شوی وي.

- زده کوونکي دې د لاندې چوکاټ متضادې کلمې د کرښې په واسطه ونښلوي.

ډېرې	لږ
ګټې	تاوان
روغتیا	ناروغي

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې د مېږې د شیدو په باره کې یوه جمله په خپلو کتابچو کې ولیکي.



ketabton.com - The Digital Library

څلور دېرشم لوست

توکه

موخه: کیسه وپېژني دکیسې اوریدل، بیرته ویل، او دکیسې لیکل او لوستل دي.



پوښتنې:

(۱) په پورته انځورکې څه شی وینئ؟

(۲) که دچا کومه کیسه زده وي خپلو ټولګیوالوته دې ووایي؟

(۳) تاسو ته په کور کې څوک کیسې کوي؟

د یوه سړي خر ورک شوی و. خلکـــو ورتـــه د زړه ډاډ ورکاوه چې خیر دی مه خپه کیږه ته دې ژوندی وې. بل خر به پیداکړې. سړي وویل: زه هم دغه شکر کومه چې زه نه وم پرې سپور. که زه چېرې په خره سپور وای، زه به هم ورک شوی وم. خلکو وخندل. ده ورته وویل: زماخر ورک شوی دی او زه ورپسې خپه یم اوتاسې خاندئ. دا خو انصاف نه دی.

ماخذ: افغان اساسي قابليتونه دپښتوله پاره د زده کړې لازمي مواد.

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې په وړو ډلوکې له خره څخه دکار اخیستلو مثالونـــه پیداکړي.
- بیا دې د دې مثالونو څخه لنډې کیسې جوړې کړي لکه: خربار وړي،
- زده کوونکي دې داسې څلور کلمې پیداکړي چې د(خ) توری ولري.

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې د خپلو کورنیو له غړو څخه دبار وړونکو حیواناتو په هکله د یوې خاطرې غوښتنه وکړي او بیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.



ketabton.com - The Digital Library

پنځه دېرشم لوست

الوتونکي مرغان

موخه: د مرغانو پېژندل، د مرغانو ژوند اوګټې، او د مرغانو د نومونو لیکل او لوستل دي.

پوښتنې:

۱. په پورتني انځورونو کې کوم مرغان وینئ؟ نومونه یې واخلئ؟

۲. آیا تاسې هم په خپلو کورونو کې مرغان ساتئ؟ که یې ساتئ کوم مرغان؟

۳. تاسې پېژنئ چې لامبو وهلی شي؟

زمونږ په هېوادکې ډول ډول الوتونکي مرغان لکه: لګ لګ، زانې، زرکې، سیسی، هیلۍ، چرګان، بټې، خلتومي چرګ (پیل مرغ)، بابښه، کارغه، چنچنې او داسې نور پیداکیږي چې ځینې یې په غرونو کې اوسیږي او ځینې نور بیا په ځنګلونو کې ژوند کوي. زمونږ خلک ځینې الوتونکي مرغان په خپلو کورونو کې هم ساتي او د هغو په روزنه بوخت وي.

او د ځینو مرغانو له هګیو او غوښو څخه ګټه اخلي. نوځکه د زیاتې پاملرنې وړ دي.

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکوفعالیت:

زده کوونکي دې دکورنیوچرګانو دګټو په باره کې له یوبل سره خبرې وکړي.

په ډلو کې انځورونو له مناسبو نومونو سره په کرښو ونښلوئ.

ډینګ

طوطي

کارغه

بابنه

کوتره

زرکه

خلتومی چرګ (پیل مرغ

هیلۍ

ګل سر

طاوس

دځلورو کورنیو مرغانو، نومونه ولیکئ:

۱ _____ ۲ _____ ۳ _____ ۴ _____

کورنۍ دنده: د دریو سارایي الوتونکو مرغانو نومونه، په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

شپږ دېرشم لوست

سوی

موخه: د سوېې د متن سم لوستل، ليکل او د سويې پيژندل دي.

پوښتنې:

١ په پورتني انځورکې کوم ژوي وينئ؟

٢ دسويی غوږونه دکوم حيوان په څېر دي؟

٣ آيا پوهيږئ چې دغه ژوي څه شيان خوري؟

د سوی شکل ته پام وکړئ ، هغه د يوه بوټي لاندې ناسته ده. وګوره د هغه د پوستکي رنګ، د وچو پـــانو او ښـــاخونو د رنګ په څېر دی.

هغه پوه شوی ده، چې يو ژوی غواړي دی ښکار کړي هغه په ځغاسته راغلی او ديوه بوټي لاندې پټه ده، ترڅو دی ونه وينې د هغه غوږونه اوږده دي. سوی د بوټو ببخونه او شـــنه وابنـــه خوري. هغه د ونو په ببخونو او دځمکو په سوړو کې ځـــان تـــه کور جوړوي. ځينې کورنۍ يې په خپلو کورونو کې هم ساتي.

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې د لوست له متن څخه درې کلمې پیداکړي چـــې د (و) توری یې په پیل، مینځ او پای کې راغلی وي. داکلمې دې بیا په خپلو کتابچو کې ولیکي.

① _____ ② _____ ③ _____

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې د سوی په باب یـــوه کیسه پیداکړي او بله ورځ دې خپلو ټولګیوالو ته ووایي.

ketabton.com - The Digital Library

اووه دېرشم لوست

کورني چرګان

موخه: دکورنيو چرګانو پېژندل، د هغو روزنه او ګټې او د هغو د نومونو ليکل او لوستل دي.

پوښتنې:

۱. په پورتني انځورونو کې څه شی وينئ؟

۲. ويلای شئ چې له کورنيو چرګانو څخه کومې ګټې اخيستل کيږي؟

۳. آيا تاسې په خپلو کورونو کې چرګان ساتئ؟ که يې ساتئ د هغو څه ډول پالنه کوئ؟

زمونږ خلک په خپلو کورونو کې چرګان ساتي او د هغو روزنه کوي. له کورنيو چرګانو څخه هګۍ تر لاسه کوي او هم يې له غوښو څخه ګټه اخلي.

ځينې خلک بيا د چرګانو د روزنې له پاره فـــارم جـــوړوي. چرګان په فارم کې نسه روزل کيږي، او ډېره ګټه ترې لاس تـــه راځي. بايد پام وشي چې دکورنيو چرګانو د استوګنې ځای پاک وساتل شي، خواړه او اوبه يې هم پاک وي ترڅو ناروغه نه شي.

د لغتونومعنا: فارم – دچرګانو د روزلوځای ، استوګنې – د اوسېدو ځای

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

- ګرانو زده کوونکو! له چوکاټ څخه متضادې کلمې پیداکړئ اوپـــه لیکه یې ونښلوئ.

۲ ښه	خرڅ کړي
۲ ډېر	بد
۳ ګټه	لږ
۴ واخلی	زیان

- له متن څخه څلور کلمې د کرښو په تشوځایوکی ولیکئ چې په (و) ختم شوي وي په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

۱ _____ ۲ _____ ۳ _____ ۴ _____

کورنۍ دنده:

ګرانو زده کوونکو! په خپله خوښه د یوه څاروي نوم په خپلو کتابچو کې ولیکئ.



ketabton.com - The Digital Library

اته دېرشم لوست

د شاتو مچۍ

موخه: زده کوونکي بايد د شاتو مچۍ وپېژني او د هغو په کتو او ارزښت پوه شي اوهـــم د دې لوست د متن ليکل او لوستل دي.

پوښتنې:

۱. په پورتني انځور کې څه شی وينئ؟
۲. تاسو کله دشاتو مچۍ ليدلې ده؟ هغه څه ډول مچۍ ده؟
۳. دشاتو مچۍ څخه څه شی لاس ته راځي؟
۴. دشاتو مچۍ چېرې ژوند کوي؟

دشـــاتو مچمـــــچۍ
دارودە ستـــالکـــــۍ
خوړه ده ســـتا کوډۍ
ښايستـــــه دې کورنۍ
ټولـــنه دې کـــمکۍ
کارکړه ښايســـتګۍ
يووالي کـــې خواږه
ببلـــــوالي کې ترخه

اروابناد روغمن

ketabton.com - The Digital Library

دزده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې دلاندې کلمو متضاد شکل له چوکاټ څخه پیدا او دکلمو ترڅنګه دې ولیکي

- خوږه _____ یووالی _____
- ښایسته

بدرنګه
بېلوالی
تریخ

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې دشاتو او مچۍ کلمې په خپلــو کتابچو کې په تورو تجزیه کړي لکه شات (ش+ا+ت).



ketabton.com - The Digital Library

نهه دېرشم لوست

مېوې او د هغو ګټې

موخه: د مېوو پېژندل، دمېوو په ګټو پوهيدل او د مېوو د نومونو ليکل او لوستل دي.



پوښتنې:

(۱) په پورتنيو انځورونو کې کومې مېوې وينئ ؟

(۲) تاسې څو ډوله مېوې پېژنئ نومونه يې واخلئ؟

(۳) تاسې په خپل کور کې څه ډول مېوه لرونکي ونې لرئ؟

(۴) ويلای شئ چې کومې مېوې وچيږي؟ نومونه يې واخلئ؟

زمونږ هېواد قسم، قسم مېوې لري. لکه: انګور، منې، ناک، شفتالو، زرد آلو، آلوبالو، ګېلاس، بهي، خټکي، هندوانې، انځر، بادام، انار او داسې نور.

مېوې بايد له خوړلو نه مخکې په پاکو اوبو ومينځل شي او بيا وخوړل شي دناپاکو مېوو خوړل ناروغي پيـــداکوي. دپـــاکو مېوو خوړل روغتيا ته ډېره ګټه لري او دانسان بـــدن غـــښتلی کوي، مورږ بايد دمېوه لرونکو ونو ښاخونه مات نـــه کـــړو. او دخدای تعالی د دغه لوی نعمت په ارزښت پوه شو.

لغتونو ، معنا: قسم قسم – ډول ډول – غښتلی –قوي

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکوفعالیت:

- زده کوونکي دې د تازه مېوو نومونه واخلي او د هغـــو رنګونـــه دې ووايي.
- هره مېوه چې په رسموکې وينئ نوم يې په خپلو کتابچو کې وليکـــئ لاندې مثال وګورئ:

زردآلو

- په چوکاټ کې نامکمل کلمې دليکې په وسيله له تورو سره ونـــښلوئ چې بشپړې شي.

آ	نه
ز	ک
هـــ	نګور
ا	ندوانه
نا	الو
مـــ	ردالو

ketabton.com - The Digital Library

- زده کوونکي دې دمتن له مخې ددريو مېوو نومونه پيداکړي چې په پـــای يا مينځ کې يې د (و) توری وي.
- زده کوونکي دې د چوکاټ له مخـــې دکلمـــو ضـــد پيـــداکړي او بيـــادې دکلموترڅنګه وليکي.

۱ ډېر	زيانمن
۲ ګټور	لنده
۳ وچه	لږ

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې د هغو مېوو نومونه په خپلو کتابچو کې وليکي چې ددوی خوښيږي.



ketabton.com - The Digital Library

څلوېښتم لوست

انګور

موخه: دانګورو د ډولونو پېژندل، د انګورو دګټو په هکله معلومات ورکول، د متن لوستل او ليکل دي..

پوښتنې:

(۱) په پورتنيو انځورونو کې کومې مېوې وينئ ؟

(۲) ممیز پېژنئ له کومې مېوې څخه لاس ته راځي؟

انګور ډېره خوږه مېوه ده. زمونږ په هېواد کې د انګورو باغونه ډېر دي. زمونږ خلک د انګورو پالنه کوي او خپلې اړتياوې له دغې مېوې څخه پوره کوي. دغه مېوه دوه ډوله بوټي لري يو اوږد چې هغه چپله کيږي او بل لنډ بوټي دي. له انګورو څخه دوه ډوله ممیز هم لاس ته راځي يوې شنه او بل يې سره ممیزدي.

ketabton.com - The Digital Library

د اومو انګورو خوړل روغتیا ته زیان رسوي. انګور باید له خوړلو څخه مخکې په پاکو اوبو پرې مینځل شي او بیا وخـــوړل شي. د پخو انګورو خوړل بدن ته ډېره ګټه لري.

د لغتونومعنا: اومه – خام ، زیان – ضرر

دزده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې په ډلو کې لاندې کلمې په تورو ووښي.

خوړه	انګور	باغونه	ممیز	اومه

- په چوکاټ کې متضادې کلمې دلیک په واسطه ونښلوئ.

خواړه	روغ
ګټور	ترخه
ډېر	بې ګټې
ناجوړه	لږ

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې د(روغتیا، پرې مینځل) کلمې په تورو ووښي.

ketabton.com - The Digital Library

يو څلوېښتم لوست

سابه

موخه: د سبو پېژندل، له هغو څخه په سمه توګه ګټه اخيستل او د سبو د نومونو ليکل او لوستل دي.

پوښتنې:

(۱) په پورتنيو انځورونو کې کوم سابه وينئ؟ نومونه يې واخلئ

(۲) سابه څوک کړي؟

(۳) کوم سابه خام او کوم سابه پاخه خوړل کيږي؟

سابه لکه: ګازرې، کاهو، وړې او اوږدې مولی، پالک، شنه مرچ، ګندنه، ټپر، کچالو (پټاټې)، شنه پياز، سره رومي، تور بانجان لښرو، (بينډۍ) او داسې نور دي. سابه زمور بدن ته غذايي مواد برابروي. او زمور بدن ته ډېره ګټه رسوي.

همدا راز د سبو په خوړلو کې بايد ډېر پام وکړو چې مخکې له خوړلو څخه په پاکو اوبو ښه ومينځل شي او بيا وخوړل شي ترڅو ناروغه نه شو.ځينې سابه اومه او ځينې هم پاخه خوړل کيږي.

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکوفعالیت:

- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي، بيا دې دخامو ســـبو د ګټـــو او د مينځلو په لارو چارو ځانونه پوه کړي وروسته دې له هرې ډلې يو تن خپل نظريات د ټولګي په مخ کې وړاندې کړي.

- دلاندې سابو نومونه د انځورونو له مخې په خپلو کتابچوکې وليکئ.



- دځلورو سابو نومونه واخلئ چې هم خام اوهم پاخه خوړل کيږي:

١ _____ ٢ _____ ٣ _____ ٤ _____

- زده کوونکي دې دري کلمې په متن کې پيداکړي او په کتابچو کـــې دې وليکي چې د(پ) په توري پيل شي.

١ _____ ٢ _____ ٣ _____

- د سبو نومونه د هغو د رنګونو سره په ليکه ونښلوئ.

ketabton.com - The Digital Library

شين	رومي بانجان
سور	ليمو
زېړ	بادرنګ
نارنجي	توربانجان
بانجاني رنګ	کدو

کورنۍ دنده: د لوست له متن څخه هغه کلمې چې د(ن) توری لري په خپلو کتابچو کې وليکئ.



ketabton.com - The Digital Library

دوه څلوېښتم لوست

د مور احترام

موخه: چې زده کوونکي د مور حقونه وپېژني! د مور د حقونو ادا کول او د دې متن سم لوستل او لیکل دی.

پوښتنې:

١ پوهیږئ چې ستاسو مور پر تاسو کوم حقونه لري؟

٢ تاسې دخپلې مور د خدمت په هکله خبرې کولی شئ؟

٣ تاسې خپلې مورته څه ډول درناوی او احترام کوئ؟

مور زه په خپله غېږ کې روزلی یم، اوله ماسره یې ډېر تکلیفونه لیدلي دي. پر ما ډېره مهربانه ده، د ښوونځي له تګ څخه مخکې ما ته د سبا ناری تیاروي. زه دخپلې مور او دکورنۍ له نورو غړیو سره دسبا ناری خورم، او بیا ښوونځي ته ځم. کله،کله ماته خوږې، خوږې، کیسې هم کوي چې په ډېره مینه یې اورم اوله هغې څخه خوشحاله کیږم. زه دخپلې مور ډېر درناوی کوم کله چې لوی شوم د هغې خدمت به هېڅکله هېر نه کړم.

دلغتونومعنا: احترام – قدر. تکلیفونه – ستونزې، خدمت – چوپړ

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې د لوست په متن کې داسې کلمې په نښه کړي چې د(م) توری په پیل، منځ او پای کې راغلی وي اوبیا دې هغه کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او له یو بل سره دې دمور په هکله خبرې وکړي او بیادې دهرې ډلې یو زده کوونکی دټولګي مخې ته راشي او دمور په هکله دې خبرې وکړي.

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې د (مور، سباناري،کیسې) کلمې په لنډو جملو کې وکاروي.



ketabton.com - The Digital Library

درې څلوېښتم لوست

له وړو سره ټوکې کول

موخه: دکلمو لوستل ، لیکل او د ټوکو له ویلو سره د زده کوونکو مینه پیداکول دي.

پوښتنې:

(۱) آیا ستاسو کومه ټوکه زده ده که مو زده وي هغه ټوکه ووایئ؟

(۲) آیا ستاسو ته په کور کې څوک ټوکې وایي؟

یوه ماشوم په منګي کې خپل ځان ولید، نو سریې ورته وخوځاوه، هغه هم په منګي کې سر ورته وخوځاوه، ماشـــوم پلار ته غږوکړ، بابا په منګي کې څوک دی او ماته خپل ســـر ښوروي.

پلار یې چې راغی اوپه منګي کې یې خپل ځـــان ولیـــد، نومنګی یې پورته کړ او په ځمکه یې وویشت چې په دا غټه تنه له وړو سره ټوکې کوې.

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او یو بل سره دې ټوکې ووایي.

  اوبیادې دهرې ډلې یوتن راشي او خپلو ټولګیوالو ته دې یوه ټوکه ووایي.

- زده کوونکي دې دلوست له متن څخه څو کلمې وټاکي چې د(م) په توري پیل شوې وي.

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې له خپلو کورنیو غړیو څخه ټوکه واوري اوپه بله ورځ دې بیا خپلو ټولګیوالوته هماغه ټوکه ووایي.



ketabton.com - The Digital Library

څلور څلوېښتم لوست

د پلار حقونه

موخه: چې زده کوونکي د پلار حقونه وپېژني ، د پلار حقونه اداکړي.دا متن سم ولولي او ويـــې ليکي.

پوښتنې:

۱. په پورتني انځور کې څه وينئ؟
۲. تاسې د خپل پلار دخدمت په هکله خبرې کولی شئ؟
۳. تاسې خپل پلار ته څه ډول درناوی کوئ؟
۴. پوهيږئ چې ستاسو پلار پر تاسو باندې کوم حقونه لري؟

پلار دکور مشر دی. پلار دخپلو ماشومانو روزنې ته پاملرنه کوي، او زيار باسي چې د ماشومانو ژوند يې ښه وي، پلار خپلو ماشومانو ته خواړه اوکالي برابروي.

نو پلار پر مورِ ډېر حقونه لري. مورِ بايد دخپل پلار خبـــرې ومنو، په کارونو کې ورسره مرسته وکړو او دهغه درناوی وکړو، چې له مونږ څخه خوشحاله وي.

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې د لاندې کلمو معنا پیدا او دکرښې په واسطه ونښلوي.

روزنه	احترام
زیار	کومک
ماشومان	اولادونه
مرسته	کوښښ
درناوی	پالنه

- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او دېلار دحقونو په هکله دې له یوبل سره خبرې وکړي او بیادې دهرې ډلې یوتن دټولګي مخې ته راشي او دېلار دحقونو په هکله دې نوروته خبرې وکړي.

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې د(پلار، ماشومان، درناوی) کلمې په جملو کې وکاروي او بیادې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

ketabton.com - The Digital Library

پنځه څلوېښتم لوست

نظم؟

پلاره

موخه: د نظم پېژندل دي، دنظم اونثر توپير کول له نظم ويلو سره مينه درلودل دنظم لوستل او دنظم ليکل دي.

پوښتنې:

۱ که ستاسو کوم نظم يا شعر زده وي نورو ټولګيوالو ته يې په خپله ژبه ووايئ؟

۲ زمونږ دلاندې نظم عنوان څه شی دی؟

۳ په پورتنی انځور کې څه شی وينئ؟

شپه او ورځ لګيا په کار يې — مهربـــان ته زما پلار يـــې

يـــې ډوډۍ پـــسې روان ته — په ستـــرياڼـــه يې دځان ته

يـــا په فکـــر دلباس يـــې — تل تر تله پـــه وسواس يـــې

جوړوي مورږ لره کور تـــه — دراحت مويې غمخور تـــه

په تعليم کې مو ببدار يې

مهربان ته زمـــا پلار يې

ارواښاد محمد عثمان نژند

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې دشعر هم وزنه کلمې په نښه کړي اوبیادې په خپلو کتابچو کې ولیکي.
- زده کوونکي دې د لاندې کلمو متضاد شکل له چوکاټ څخه پیدا او دکلمو ترڅنګه ولیکي.

شپه ـــــــ راحت ـــــــ

ورځ ـــــــ

شپه
سختي
ورځ

- زده کوونکي دې په وړو ډلو ووېشل شي اود پلار په هکله دې یو له بـــل سره خبرې وکړي اوبیا دې د هرې ډلې یوزده کوونکی دټولګي مخې ته راوغوښتل شي او د پلار په هکله دې خبرې وکړي.

کورنۍ دنده: **زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کـــې د(پـــلار، مهربانه، لباس، تعلیم) کلمې په جملو کې وکاروي.**



ketabton.com - The Digital Library

شپږ څلوېښتم لوست

د ماشوم څنګه درناوی وکړو؟

موخه: د دغه متن لوستل، لیکل او ماشومانوته دسپکوسپورو خبرو نه ویل او د هغوی مـــشوروته درناوی کول دي.

پوښتنې:

(۱) آیا تاسې په کور کې دکور په چاروکې برخه اخلئ؟

(۲) مور او پلار له تاسو سره په کومو کارونو کې مشوره کوي؟

ماشوم ته باید سپکې سپورې خبرې ونه شي (لکه: بې عقله، بې مغزه، جاهله، ناپوهه، خره، شوتې) اوهم بې ځایه نیوکې پرې ونکړو،لکه: ډوډۍ خوړل دې هېڅ نه دي زده.

په داسې حال کې چې (دماشوم زده وي) دماشوم خبروته باید په درناوي غوږ ونیسو، پوښتنو ته یې په ورین تندي ځواب ورکړو او دکور په چاروکې ترې نظر وغواړو دبېلګې په توګه: نن شپه مېلمانه لرو تاسې ووایئ چې دمېلمنو له پاره څه شی پاخه کړو.

دلغتونومعنا: جاهل – ناپوه ، ورین تندی– خلاص تندی، نیوکې – انتقاد

ketabton.com - The Digital Library

دزده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې دلوست دمتن هغه کلمې چې د(هـــ) توری يې پـــه پيل، منځ او پای کې راغلی وي په نښه او په خپلو کتـــابچو کـــې وليکي.

- زده کوونکي دې دلوست دمتن د(درناوي – ماشوم – غوږ) کلمـــې په جملو کې وکاروي.

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې د(بې مغزه ،ناپوهه، شوتې) کلمې په تورو باندې واړوي.



ketabton.com - The Digital Library

اووه څلوېښتم لوست

ګاونډی

موخه: زده کوونکي باید د ګاونډي په حقونو او دهغو په ارزښت پوه شي اودامتن سم ولـــولي او سم يې وليکي.

پوښتنې:

۱. ګاونډي چاته ويل کيږي؟

۲. تاسې دخپلو ګاونډيانو له ماشومانو سره څه ډول ناسته ولاړه کوئ؟

۳. ټول انسانان بايد له يوبل سره څه وکړي؟

سليم زمونږ ګاونډی دی. مونږ له هغوی سره ښه ناســـته او ولاړه لرو. مونږ يو له بل سره مرسته کوو، په غم او ښادۍ کـــې سره شريک يو. ټول ګاونډيان بايد يوله بل سره ښه رويه وکړي. او په خپل منځ کې مينه ولري.

په ښه ناسته او ولاړه کې د ګاونډيتوب حق پرځای کيږي.

ماخذ: افغان اساسي قابليتونه ، دپښتوله پاره دزده کړې لازمي مواد.

ketabton.com - The Digital Library

دزده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې دلاندې کلمو تش ځایونه دچوکاټ پـــه مناســـبو او سمو کلمو سره ډک کړي.

ګاونډی _____

ښادي _____

مرسته _____

مینه _____

کامک محابت خوشحالي همسایه

کومک محبت خوشهالي حمسایه

- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او له یوبل سره دې دګاونـــډیو دحقونو په هکله خبرې وکړي.

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د (ګاونډی، مرسته، مینه ، ښادي) کلمې په جملو کې وکاروي.



ketabton.com - The Digital Library

اته څلوېښتم لوست

د انسانانو درناوی

موخه: د دغه متن لوستل، ليکل او زده کوونکي بايد په دې پوه کړل شي چې ټــول انــسانان د درناوي وړدي.

پوښتنې:

(۱) هغه خلک چې سپين ږيري او مشران دي دهغوی څه ډول درناوی کوئ؟

(۲) تاسې خپلې مور، پلار، وروڼو او خويندو ته درناوی کوئ؟

ټول انسانان که ښځينه دي او که نارينه، که ځوانان دي او که ماشومان د درناوي وړ دي، ښه ماشــومان او زده کــوونکي همېشه د ټولو خلکو درناوی کوي.دمشرانو او سپين ږيــرو پــه خبرو کې نه لوييږي.

ښه زده کوونکي د مشرانو خبرې مني. په لاره کې دمشرانو څخه مخکې نه ځي، هغه ماشومان او زده کوونکي چې د خپلــې کورنۍ او خلکو درناوی په پام کې ساتي خلک له هغوی څخه تل خوشحاله وي.

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې د لاندې کلمو مفرد شکل له چوکاټ څخه وټـــاکي اود جمعې کلمو مخې ته دې هغه وليکي.

انسانان _____ ماشومان _____

ځوانان _____ مشران _____

انسان	ماشوم	مشر	ځوان

- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او له يوبل سره دې دمشرانو او سپين ږيرو د درناوي په هکله خبرې وکړي او بيا دې د هرې ډلې يوتن راشي او دمشرانو د درناوي په هکله دې نورو ټولګيوالوتـــه معلومات ورکړي.

- زده کوونکي دې د لوست له متن څخه داسې کلمې وټاکي چې د (ن) توری دکلمې په پيل،منځ او پای کې راغلی وي.

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې د(انـــسانان، احتـــرام، خبـــرې، خوشحاله) کلمې په خپلو کتابچو کې په تـــورو بانـــدې وارۍ.

ketabton.com - The Digital Library

نهه څلوېښتم لوست

د خبرو کولو ادب

موخه: زده کوونکي بايد دخبروکولو په اهميت پوه شي او دا متن سم ولولي او سم يې وليکي.

پوښتنې:

(۱) کله چې په مجلس کې يو څوک غږيږي تاسو ورته څه ډول غوږ نيسئ؟

(۲) دنورو خبروته په سمه توګه غوږ نيول څه ګټه لري؟

د خبرو کولو په وخت کې بايد د خبـــرو ادب وســـاتل شي. کله چې زمونږ ملګری اويا يوڅوک له مونږ ســـره خبـــرې کوي. مونږ بايد د هغه خبروته غوږ ونيسو او په خبرو يې ځان پوه کړو. که چېرې څوک له مونږ څخه پوښتنه کوي بايد په خـــورا ادب سره د هغه پوښتنې ته ځواب ورکړو. بايد د بـــل چـــا پـــه خبروکې بې ځايه ورګډ نه شو. او تل دخبرو وار په پـــام کـــې وساتو.

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې د لوست په متن کې هغه کلمې چې د (ب) توری پې په پیل، منځ اوپای کې راغلي وي په نښه کړي اوبیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

- زده کوونکي دې د لاندې چوکاټ له تورو څخه دکربنې پـــه واســـطه مناسبې کلمې جوړې کړي.

خـــ	ت
وخـــ	ی
اد	ډ
ملګر	بت
غو	ب
نو	ډرو

- زده کوونکي دې په ډلوکې له یوبل سره د خبروکولو د ادب پـــه هکلـــه خبرې وکړې او بیا دې د هرې ډلې یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راشي او د خبروکولو د ادب په هکله دې نوروته معلومات ورکړي.

کورنۍ دنده: لاندې کلمې په تورو واړوئ او بیایې په خپلو کتابچو کې ولیکئ (خبرې، ادب، ملګري، پوښتنه)

ketabton.com - The Digital Library

پنځوسم لوست

د سلام کولو ادب

موخه: چې زده کوونکي دسلام اچولو په ادب او د هغو په کټو وپوهيږي او په عملي توګــه يــې اجرا کړي او د دې متن لوستل او ليکل دي.

پوښتنې:

(۱) که پر لاره باندې مشران او يا سپين ږيري خلک ووينئ څه ورته وايئ؟

(۲) کله چې خپل پلار، مور او يا دکور بل غړی ووينئ ستاسو دنده ددوی په وړاندې څه ده؟

بنه زده کوونکي کله چې ټــولګي تــه ننــوځي خپــل ښوونکي او ټولګيوالو ته سلام کوي کله چې له ښوونځي څخه دکور په لورځي په کور کې خپلې مــور، پــلار، ورونــو او خويندو ته سلام اچوي، همداراز په لاره کې د سپين ږيــرو، مشرانو او ګاونډيانو آداب هم په پام کې ساتي او هغوی تــه سلام اچوي.

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

- له لاندې توروڅخه کلمې جوړې کړئ او بیا یې په تشو چوکاټونو کې ولیکئ.

س + ل + ا + م	ا + د + ا + ب	م +ش + ر+ ا + ن

- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او دسلام اچولو ادب په هکلـــه دې له یوبل سره خبرې وکړي او بیادې ښوونکی دهرې ډلې یـــو زده کوونکی دټولګي مخې ته را وغواړي چې دسلام اچولـــو پـــه هکله خبرې وکړي.
- زده کوونکي دې د لوست په متن کې هغه کلمې په نښه کړي چـــې د(م) توری یې په سر، منځ اوپای کې راغلی وي بیا دې په خپلـــو کتابچو کې ولیکي.

کورنۍ دنده: د لوست له متن څخه په خپله خوښه څو کلمې وټاکئ اوهغه په خپلو کتابچو کې په حروفو ولیکئ.



ketabton.com - The Digital Library

يو پنځوسم لوست

ډوډۍ

موخه: زده کوونکي بايد پوه شي چې لومړی غنم کرل کيږي او له غنمو څخه اوړه لاس ته راځي او بيا له اوړو څخه ډوډۍ پخيږي او د ډوډۍ د لوست متن لوستل اوليکل دي.



پوښتنې:

(۱) په پورتني انځور کې څه شی وينئ؟

(۲) تاسو دغنمو دکرلو په هکله څه ويلای شئ؟

(۳) له غنمو څخه څه شی لاس ته راځي؟

غنم چې شنه شي

لوی شي پاخه شي

اوبيا اوړه شي

خميره ښه شي

په تناره شي

ډوډۍ خواړه شي

خلک ماړه شي

کارله جوړ شي

وړی چې مور شي

ارواښاد روغمن

ketabton.com - The Digital Library

دزده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې په ډلو کې له یوبل سره دغنمو دکرلو په هکله خبرې وکړي اوبیادې دهرې ډلې یو زده کوونکی دټولګي مخې ته راشي او غنمو دکرلو په هکله دې نوروته معلومات ورکړي.

- زده کوونکي دې دلوست دمتن هم وزنه کلمې په نښه او پـــه خپلـــو کتابچو کې ولیکي. لکه شنه – پاخه

- زده کوونکي دې له لاندې توروڅخه کلمې جوړې کړي او دچوکاټ په تشو ځایونو کې دې ولیکي.

غ + ن + م	ا+ و + ړ + ه	ډ +و + ډ+ ی	و + ړ + ی

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې په کور کې له خپلو مشرانو څخه پوښتنه وکړي چې له اوړوڅخه څه، څه شیان پخیـــړي او بیادې په ټولګي کې نوروته ووایي.



ketabton.com - The Digital Library

دوه پنځوسم لوست

ناولي سابه

موخه: چې زده کوونکي متن ولوستلی شي، ویې لیکی د چټلو او ناپاکو سبو د خوړلو په زیانونو باندې پوه شي.

پوښتنې:

(۱) په پورتني انځور کې څه شیان وینئ خبرې پرې وکړئ؟

(۲) دناولو سبو خوړل سړي ته څه زیان رسوي؟

(۳) تاسې ناولي سابه په څه شي مینځئ؟

یوه ورځ کاهو، ګندنې ته وویل: چې اې ګندنې! ځینې ماشومان زمور خوړلو ته ډېر هوسیږي او خوشحالي کوي. دوی زمور په سموخوړو نه پوهیږي. نامینځلي مو د دسترخان په مخ ږدي او په خوړلومو لګیا کیږي.

خو کله چې ددوی په ګډه باندې لږ درد راشي. سمدلاسه پې مور، پلار او کورنۍ وارخطا کیږي. نو زمورې سپارښتنه دغو نازولو ماشومانو ته دا ده مخکې له دې چې مور په دسترخان خوړلو ته تیاروي په کار داده چې دوی لومړی پټاس اویا لږه مالګه په اوبوکې حل کړي او مور پرې ومینځي. کله چې له میکروبونو څخه پاک شو بیا دخوړلو وړګړځو اوپه خوند، خوند د پ مور وخوري. ترڅو دوی ناروغه نه شي.

ketabton.com - The Digital Library

دزده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او دناولو سبو دخوړلو په هکلـــه دې له یوبل سره خبرې وکړي چې دناولوسبو خوړل روغتیا ته زیان لري.

- زده کوونکي دې د لوست په متن کې هغه کلمې چې د(ر) توری یـــې پـــه سر، منځ اوپای کې راغلی وي په خپلو کتابچو کې ولیکي.

- له لاندې ورکړل شویو توروڅخه دې کلمې جوړې او په چوکاټ کې دې ولیکي.

س + ا + ب + ه

م + ی + ن + ځ + ل + ی

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې په خپله خوښه د هغو سبو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکي چې هم اومه خوړل کیږي اوهم پاخه.



ketabton.com - The Digital Library

درې پنځوسم لوست

روغ پاتې کېدل

موخه: د دې لوست موخه داده چې زده کوونکي دسالم بدن دپاتې کېدو په اړتيا او دهغه په ارزښـــت پـــوه شي اودمتن ليکل اولوستل دي.

پوښتنې:

۱ په پورته انځورونو کې څه شيان وينئ خبرې پرې وکړئ؟

۲ تاسې څرنګه کولی شئ چې بدن مو سالم او روغ وي؟

۳ آيا تاسې پاک خواړه خورئ، پاکې اوبه څښئ اوسپورت کوئ؟ خبرې پرې وکړئ.

د انسان د بدن دروغ پاتې کېدو له پاره مرستې تـــه اړتيـــا لري. ښه خواړه، دپاکو اوبو څښل، سپورت کول، اوپه وخـــت سره خوب کول بدن ته ځټه رسوي. په خوړو کې بايد له هر ډول خوړو لکه: غوښې، سابه، نخودو، وريجـــو، مېـــوې او داســـې نوروڅخه ځټه واخيستل شي. ښه او مناسب خواړه دروغتيا لـــه پاره ضروري دي.

د پاکو اوبو څښل دخوړو په هضمولو کې پـــوره مرســـته کوي. سپورت کول دانسان دبدن هډوکي او غړي غښتلی کوي. هر انسان په يوه شپه او ورځ کې له ۷ څخه تر ۸ ساعتونو پورې خوب ته اړتيا لري، که غواړئ چې بدن مو روغ وي، نو پورتنۍ خبرې په پام کې وساتئ.

ماخذ: افغان اساسي قابليتونه دپښتو له پاره دزده کړې لازمي مواد.

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې دلوست له متن څخه هغه کلمې چې د(غ) توری یې پـــه سر، منځ او پای کې راغلی دي په خپلو کتابچو کې ولیکي.

- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او د روغ پاتې کیدو په هکله دې له یوبل سره خبرې وکړي.

- زده کوونکي دې دلاندې پوښتنې سم ځواب پیدا اوپه نښه کړي، کوم شیان دبدن دروغ پاتې کېدو له پاره مرسته کوي؟

الف – نښه خواړه، دپاکو او بوڅښل، سپورت کول او خوب کول.

ب –ډېر خواړه خوړل

ج – خوب نه کول

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې د لوست له متن څخه څلور کلمې وټاکي او بیا دې یې په خپلو کتابچو کې په تورو ولیکي.



ketabton.com - The Digital Library

څلور پنځوسم لوست

ماين څه شی دی؟

موخه: چې زده کوونکي ماينونه وپيژني او دهغو له خطرونو څخه ځانونه وساتي.



پوښتنې:

(۱) آيا تاسو ماينونه ليدلي دي؟ که مو ليدلي دي خبرې پرې وکړئ؟

(۲) که چېرې تاسې له ماين سره مخامخ شئ څه کوئ؟

ماين يو ډېر خطرناک شی دی. انسانان او حيوانات له منځه وړي. ځينې ماينونه دقلم، ساعت، توپ، رادیو او نورو شيانو په څېر په لارو، سړکونو، پلونو او ويالو کې ځای پر ځای کيږي. بايد لاس ورنه وړئ ځکه چې هغه چوي او سړی له منځه وړي. اويا مو ټپي کوي. هغه ځايونه چې په سره رنګ سره په نښه شوي دي تګ اوراتګ پرې مه کوئ.

ketabton.com - The Digital Library

دزده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې دلاندې پوښتنو سم ځواب پیدا اوپه نښه کړي.

۱–ماینونه په کومو ځایونو کې موندل کیږي؟

الف: په سیندونوکې ب: سړکونو کې ج: په لارو، سړکونو، پلونو او ویالوکې

- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او له یوبل سره دې دماین دخطرونو په هکله خبرې وکړي.اوبیادې دهرې ډلې یو زده کوونکی دټولګي مخې ته راشي اودماین دخطرونو په هکله دې خبرې وکړي.

- زده کوونکي دې دلوست په متن کې داسې کلمې پیداکړي چې د(م) توری یې په سر، منځ او پای کې راغلی وي اوبیادې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې د (ماین، ټیې، خطرناک) کلمې په خپلو کتابچو کې هېجا کړي.



ketabton.com - The Digital Library

پنځه پنځوسم لوست

روغتيا

موخه:چې زده کوونکي د پاکۍ په ارزښت او ګټو پوه شي او شعرسم ولولي او سم يې وليکي.

پوښتنې:

(۱) پاکوالی څه ګټې لري؟

(۲) که چېرې موږ خپل ځان پاک او سوتره ونه ساتو څه پېښيږي؟

(۳) موږ څه وکړو چې ناروغه نه شو؟

پاک ساتـــم لاســـونه مې
پاک ساتـــم غابنـــونه مې
پاکـــې جامـــې اغـــوندم
پـــاک ســـاتم بوټونه مې
پاک خـــواړه اوبه غواړم
پاک ســـاتم ځـــايونه مې
پاک مرغان ښايسته ښکاري
پاک ساتـــم مالونه مـــې
پاک ژوندکې خوشحاله يم
پاک دي ټول کارونه مې
ښکلـــی پـــه پاکۍ يمـــه
ګـــل دکـــورنۍ يمـــه

اروابنادروغمن

ketabton.com - The Digital Library

دزده کوونکو فعالیت:

زده کوونکي دې لاندې بې ترتیبه کلمې په ترتیب سره ولیکي.

مې، ساتم، پاک، لاسونه _____

زده کوونکي دې دلاندې کلمو معنا له چوکاټ څخه پیدا او ترڅنګ دې ولیکي.

الف: جامې _____

ب: مرغان _____

ج: ښکلی _____

کالي
الوتونکي
ښایسته

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د(روغتیا، لاسونه، غاښونه، خواړه) کلمې په جملو کې وکاروي.



ketabton.com - The Digital Library

شپږ پنځوسم لوست

واکسین کول

موخه: زده کوونکي باید د واکسین د ګټو په ارزښت پوه شي او هم د متن لوستل او لیکل زده کړي.

پوښتنې:

(۱) آیا تاسو خپل ځانونه واکسین کړي دي؟ واکسین څه ګټې لري؟

(۲) واکسین سړی دځه شي څخه ساتي؟

(۳) تاسې پخپل کلي کې دواکسین کلینیک لرئ؟ او که لرئ خبرې وکړئ؟

واکسین کول ماشوم له یو شمېر ناروغیو څخه ساتي، هغه ماشومان چې واکسین شوي نه وي، ډېر امکان لري چې هغوی د موادو په کمښت یا معلولیت اخته شي، اویا مړه هم شي. د واکسین کول د ماشومانو له پاره ډېر ضرور دي.

د واکسینونو ټول ډولونه باید د ماشوم د ژوندانه په لومړي کا ل کې ولګول شي. میندې اوپلرونه باید کوښښ وکړي چې خپل ماشومان د واکسین کولو کلینیک ته بوځي او هغوی واکسین کړي.

د لغت معنا: معلولیت – عیبجن

ماخذ: افغان اساسي قابلیتونه پښتو له پاره دزده کړې لازمي مواد.

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او د واکسین کولو دکتـــو پـــه هکله دې خبرې وکړي او بیا دې هره ډله خپل نظریات نوروتـــه ووایي.

- په ورکړل شوي متن کې هغه کلمې پیداکړئ چې د یو وار څخه زیاتې راغلې وي لکه: (واکسین)

- زده کوونکي دې د (واکسین، ماشومان، معلولیت، کلینیک) کلمـــې په تورو ووېشي.

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې په خپله خوښه دلوست دمتن څخه څو کلمې وټاکي او هغه دې په تورو ووېشي.



ketabton.com - The Digital Library

اووه پنځوسم لوست
د ځان پاکوالی

موخه: د دې لوست موخه د پاکوالي په هکله معلومات او د هغه ګټې دي او هم د متن لوستل اولیکل دي.

پوښتنې:

(۱) په پورتنیو انځورونو کې څه ویني خبرې پرې وکړئ؟
(۲) که غواړو چې تل روغ واوسو نوڅه وکړو؟
(۳) ولې ځان پاک ساتو؟
(۴) که چېرې خپل پاکوالي ته پام ونه کړو څه پېښیږي؟

توریالی او محمود د دوهم ټولګي زده کوونکي دي. دوی ښه ملګري دي، تل له یوبل سره لوبې کوي، خپل درسونه یوځای لولي. یوه ورځ توریالي محمود ته وویل چې محمودە! دځان دپاکوالي په هکله معلومات لرې؟ هغه ورته وویل: هو! پاکوالی دایمان یوه برخه ده، هرڅوک پاکوالي او روغوالي ته اړتیا لري. دخپل ځان دپاک ساتلو له پاره لازم دي چې بدن او کالي همیشه پاک وساتو. وروسته له تشناب تللوڅخه خپل لاسونه په صابون پاک پرې مینځو، باید پام وکړو چې له خوړوڅخه مخکې هم خپل لاسونه پرې مینځو

ketabton.com - The Digital Library

او بيا ډوډۍ وخورو، پاکوالی زمونږ بدن تندرسته کوي او له ناروغيو څخه موژغوري.

دزده کوونکو فعاليت:

- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او دځان دپاکوالي په هکله دې يوبل سره خبرې وکړي بيادې هره ډله خپل نظريات نوروته واوروي.

- زده کوونکي دې له ورکړل شوو توروڅخه مناسبې کلمې جوړې کړي. (پ – ا – که – و – ا –ل – ی) (ا– ی– م – ا – ن)

(ا – ړ – ت – ی – ا)

- زده کوونکي دې د لوست له متن څخه دوه توريزې او درې توريزې کلمې په نښه کړي او بيا دې په خپلو کتابچو کې وليکي.

کورنۍ دنده: لاندې کلمې په خپلو کتابچو کې په تورو ووېشئ

(لوبې – روغوالی – لاسونه – صابون – پياوړی)



ketabton.com - The Digital Library

اته پنځوسم لوست

د مخدره موادو زیانونه

موخه: چې زده کوونکي د مخدره موادو په زیان او ضرر پوه شي او هم د متن لوستل او لیکل زده کړي.

پوښتنې:

(۱) په پورتني انځورکې څه ویناې خبرې پرې وکړئ؟

(۲) سګرټ، چرس، نسوار او نور نشه یي مواد ولې بد عملونه دي؟

(۳) څوک چې سګرټ، چرس او نسوار څکوي د هغو نه خلک ولې کرکه کوي؟

سګرټ، چرس، نسوار څکول او د نورو نشه یي موادو کارول ډېر ناوړه عملونه دي. لوی خدای (ج) دانسان په دغو ناوړو عملونو نا راضه کیږي، دا عملونه روغتیا ته ډېر زیان رسوي.

د نشه یي سړي څخه هر څوک کرکه کوي. ناســـته او ولاړه ورسره نه کوي که وغواړو چې بدن مو روغ او رمټ وي، نو پـــه کار دا ده چې سړی له دغو بدو عملونو څخه ځان وژغوري.

ketabton.com - The Digital Library

دزده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او له یوبل سره دې د مخـــدره موادو نومونه او د زیانونو په هکله خبرې وکړي او بیا دې هره ډله نظریات نورو ته واوروي.

- زده کوونکي دې د لوست په متن کې اته داسې کلمې پیداکړي چې د (س) توری په کې راغلي وي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې په خپله خوښه دلوست له متن څخه پنځه کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکي.



ketabton.com - The Digital Library

نهه پنځوسم لوست

سوله او ماشومان

موخه: د دغه لوست لیکل او د سولې په ارزښت اوارتیا پوهېدل اوپه عمل کې يې پلي کول دي او د دې لوست متن لیکل اولوستل دي.

پوښتنې:

(۱) تاسې له خپلو ګاونډیو او همزولو سره څه ډول ناسته ولاړه کوئ؟

(۲) کله چې ستاسو د دوو ټولګیوالو په منځ کې خپګان پېښ شي د هغه دحل له پاره څه کولی شئ؟

ځدرانۍ او د ده ملګري له بېلابېلو ولایتونو اوقومونو څخه دي دوی د یوبل ښه ګاونډیان دي. ځدرانۍ له خپلو ملګرو سره لوبې کوي. دی هېڅکله له هغوی سره په لوبو کې لانجې نه کوي.

دده ملګري هم ښه هلکان دي. دوی په خپل منځ کې لکه د یوې کورنۍ دغړو په څېر په روغه جوړه کې خپلو لوبو ته دوام ورکوي او خپل کارونه په ګډې همکارۍ سره سرته رسوي.

ketabton.com - The Digital Library

دزده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې د لاندې کلمو څخه جملې جوړې اوپه کتابچو کې دې وليکي. (ملګري، ګاونډي، قومونه)

- له چوکاټ څخه دکلمو مفرد پيدا او پر کرښه يې وليکئ.

قومونه	ملګری
هلکان	قوم
ملګري	هلک

کورنی دنده: زده کوونکي دې د خپلو ښو ملګرويو،و صفت په کتابچو کې وليکي او جمله دې ترې جوړه کړي.



ketabton.com - The Digital Library

شپيتم لوست

زغم (صبر)

موخه: د دغه متن لوستل ليکل او په ټولنيز ژوند کې د زغم اوصبر کولو په ارزښـــت او اهميـــت پوهيدل دي.

پوښتنې:

(۱) په پورتني انحورکې څه وينئ خبرې پرې وکړئ؟

(۲) تاسې دزغم اوصبر په هکله څه پوهيږئ خبرې پرې وکړئ؟

کله کله ماشومان او زده کوونکي په لوبو کې په يوټاکلي شـــي باندې شخړې اولانجې کوي چې يو په بل باندې بې ځايـــه تيـــرى کوي. په دغه وخت کې د ماشومانو اوزده کوونکو له پاره په کـــار دا ده چې د شخړو او لانجو پرځای د زغم او خبرو کولو څخه کار واخلي. او په دې هکله دې فکر وکړي چې شخړه اولانجـــه ښـــه کارنه دى، زمورِ دوستي او ملګرتيا ورانوي، ماشومانو ته په کـــار ده چې په خپل منځ کې هيڅکله شخړې ونه کړي.

دلغتونومعنا: زغم – صبر او حوصله، لانجه – جنجال کول

ketabton.com - The Digital Library

دزده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې د چوکاټ ورته او هم معنا کلمې د کربنې پـــه واســـطې ســـره ونښلوي.

زغم	ملګرتيا
لانجی	دوستي
تيری	تيری
شخړې	زغم
دوستي	شخړې
ملګرتيا	لانجې

- د لوست اصلي مطلب څه شی دی سم ځواب په نښه کړئ:

الف: د زغم او صبر په هکله خبرې اوړېدل دي.

ب: په لوبوکې د شخړو او لانجو نه کار اخیستل دي.

ج: د شخړو پرځای د زغم او صبر نه کار اخیستل دي.

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې له لاندی توروڅخه کلمې جوړې او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي (ش – خ – ړ – ه) (ز – غ – م) (ص – ب – ر)

(د – و – س – ت – ي)



ketabton.com - The Digital Library

يو شپېتم لوست

رښتيا ويل

موخه: د دغه متن لوستل، ليکل او د رښتيا ويلو په ګټو باندې د زده کوونکو پوهېدل دي.



پوښتنې:

(۱) رښتيا ويل څه ګټه لري؟

(۲) د روغجن سړی ولې دخلکو نه خوښيږي؟

لوی الله (ج) د رښتيا ويلو څخه خوشحاله کيږي. څوک چې رښتيا وايي هرڅوک يې په خبرو باور کوي. او په خلکو کې اعتبار پيداکوي. مور ته لازمه ده چې تل له خپلې کورنۍ، ګاونډيانو او دوستانو سره په رښتيا ويلو ژوند وکړو. اوله دروغو څخه ځان وژغورو.

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې په خپلو ډلو کې په نوبت سره د خپلو هغو دوستانو د ښیګنو په هکله خبرې وکړي کوم چې ربنتیا وایي.

- زده کوونکي دې د لاندې چوکاټ له مخې له تورو څخه کلمـــې جـــوړې کړي.

					ر
ښتیا	وښان	وغتیا	مه	نا	وشې

کورنۍ دنده: لاندې درکړل شوې کلمې د جملو په تشو ځایونو کې وکاروئ او بیایې په خپلو کتابچو کې ولیکئ. (ربنتیا، دروغ)

څوک چې ____ وایي هرڅوک یې په خبروباور کوي.

مورِ ته لازمه ده چې له _____ څخه ځان وژغورو.



ketabton.com - The Digital Library

دوه شپېتم لوست

دوستي او ملګرتيا

موخه: د دغه متن لوستل، ليکل او د دوستۍ لارې چارې پېژندل دي.

پوښتنې:

(۱) آيا تاسې دوستان لرئ؟ د هغوی نومونه واخلئ؟

(۲) آيا تاسې کوم وخت له خپل دوست سره کومه مرسته کړې ده هماغه مرسته دکيسې په توګه وکړئ؟

(۳) دوه دوستان په کوم وخت کې يوله بله سره مرسته کولی شي؟

زړګی او غمی په يوه ټولګي کې درس لولي. دوی يو له بل سره ښه دوستي او ملګرتيا لري. يوه ورځ غمي له زړګي څخه پوښتنه وکړه:

راتلونکې جمعې ته به د تفريح له پاره کوم ځای ته ځو؟

زړګي وويل:

د کلي بڼ ته به ولاړ شو چې د هغه له منځ څخه داوبو ويالې تېره شوې ده هلته به لامبو ووهو. د باغ ترسيوري لاندې به لوبې وکړو او د ډوډۍ خوړلو څخه به وروسته ورو، ورو خپل کورته راشو. غمي د خپل ملګري دخبرې له اوربدو وروسته له هغه سره پريکړه وکړه چې د راتلونکې جمعې په ورځ به هماغه باغ ته ځو.

د لغتونومعنا: تفريح – ساعتيري، پريکړه – فيصله

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې په خپلو ډلو کې په نوبت سره د ټولګي مخـــې تـــه راشي او د خپلو ملګرو دښيګنې په باره کې دې خبرې وکـــړي او نور زده کوونکي دې غوږ ونيسي.

- د لاندې چوکاټ له مخې له توروڅخه کلمې جوړې کړئ؟

			د
وی	رس	وستان	وستي

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې لاندې کلمې په تورو واړوي.

(زړګی،ملګرتيا، ويالې، باغ)



ketabton.com - The Digital Library

درې شپېتم لوست

د ستورو شمېر

موخه: د دغه متن لوستل، ليکل او زده کوونکي بايد پوه شي چې ستوري نه شمېرل کيږي.

پوښتنې:

(۱) په انځورکې څه شی وينئ؟ څوک خبرې کولی شي؟

(۲) تاسو څه وخت په آسمان کې ستوري وينئ؟

(۳) پرته له ستورو څخه نور کوم شيان په آسمان کې وينئ؟

يوه سړي له بل نه پوښتنه وکړه چې په آسمان کې څو ستوري دي. هغه ورته وويل چې: (لس لکه) ده ورته وويل: دا سم ځواب نه دی. هغه ورته وويل: نو ورشه ته يې په خپله وشمېره.

کيسی

څلور پې اندامونه، څلور پې پښې دي، نور ګرد سره کولمې دي، داڅه شی دی؟ (کټ)

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي او له یوبل سره دې په دې هکله چې د شپې په آسمان کې څه شی ویني خبرې وکړي او بیا دې هره ډله خپل نظریات نوروته ووایي.

- زده کوونکي دې دلوست په متن کې د(س) توری پیدا کړي چې دکلمې په سر، منځ او پای کې راغلی وي بیادې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

- زده کوونکي دې لاندې کلمې په تورو باندی واړوي

(پوښتنه، آسمان، ستوري، وشمېره)

- زده کوونکي دې دکیسې سم ځواب پیداکړي او بیا دې په خپلــو کتــابچو کــې ولیکي.

کورنۍ دنده: **له لاندې تورو څخه کلمې جوړې کړئ.**

(س + ت + و + ر+ي) (ش + م + ي + ر)

ketabton.com - The Digital Library

څلور شپېتم لوست

مېږی او کوتره

موخه: چې زده کوونکي د دې کیسې په لوستلو او لیکلو سره د مرستې په ګټو او ارزښت پوه شي او د اړو خلکو سره دې د خپلې وسې په توان مرسته وکړي.

پوښتنې:

(۱) په پورتنیو انځورونو کې څه وینئ؟
(۲) مرسته څه ته وایي؟
(۳) د مرستې په هکله خبرې کولی شئ؟
(۴) خدای (ج) مه کړه که ستاسو له ټولګیوالو څخه یو له کومې ستونزې سره مخامخ شي تاسو ورسره څه مرسته کولی شئ؟

یوه ورځ یومېږی په ډنډ کې لوېدلی و، لاس اوپـــنبې یـــې وهلې، له اوبونه وتلی نه شو. یوه ښکلې کوتره چې پاس د ونې پر ښاخ ناسته وه. زړه یې پرې وسوځېده، یوه پانه یې په منښوکه پرې کړه او په ډنډ کې یې دمېږي مخ ته واچوله. مېـــږی پـــه پانـــه راوخوت او له مرګ څخه وژغورل شو.

بله ورځ هماغه کوتره په ونه کې ناسته وه، ښکاري پټ، پـــټ راغی، غوښتل یې چې کوتره په ټوپک وولي او راویـــي غورځـــوي میږي ته چې د کوترې نیکي او مرسته وریاده شوه، راغی او ښکاري یې په پښه وچیچه، ښکاري ټوپ کړ او کوتره والوته.

ماخذ: مېږی او کوتره ، افغانستان نشراتي اداره (انا)

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې په وړو ګروپونو ووېشل شي او له یوبـــل ســـره دې دمرستې او همکارۍ په هکله خبرې وکړي او بیادې دهرګـــروپ یوغړی دټولګي مخې ته راشي اود مرستې اوهمکارۍ په هکله دې نوروته خپل معلومات وړاندې کړي.

- زده کوونکي دې د لاندې کلموجمع پیـــدا اودکلمـــو ترڅنګـــه دې وليکي.

ورځ _____ لاس _____

ډنډ _____ کوتره _____

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې د (میږي، کوتره، ښکاري، نیکي) کلمې په جمله کې وکاروي او بیا دې په ښکلي لیک سره په خپلوکتابچو کې وليکي.



ketabton.com - The Digital Library

پنځه شپېتم لوست

وېره

موخه: د دغه متن لوستل، لیکل، دوېرې پېژندل او له وېرې څخه ځان ساتل دي.

پوښتنې:

۱. په انځور کې څه شی وینئ؟ خبرې پرې وکړئ اوله انځورڅخه څه احساس کوئ؟

۲. آیا تاسې له کوم حیوان څخه ویرېدلي یاست؟

۳. داسې یوځوک چې وېرېدلی وي تاسو لیدلی دی؟

احمد ښوونځي ته روان و، په لاره کې يې له لـــرې څخـــه یوسپی ولید. په وېره دکور خواته را وګرځېده په کورکې يې مور پوښتنه ترې وکړه: احمده زویه! ولې ښوونځي ته نه يې تللـــی؟ احمد ځواب ورکړ: مورجانې! په لاره کې له یوه ســـپي څخـــه ووېریدم.د هغه له وېرې څخه مې نه شو کولی چې ښوونځي تـــه لاړ شم. موریې بیا وویل: زویه سپی غټ و که کوچنی؟ احمـــد وویل: چې نه سپی کوچنی و او ماته يې کتل.

مور يې په خندا شوه او ویې ویل: زوی جانه! سپي ته بـــه دې یوه مړۍ ډوډۍ اچولې وه هغه به له تاسره آشنا يي پیداکړې وای.

سپیوته چې آزار ونه رسیږي چاته څه نه وایي او ډېر ژر لـــه سړي سره اموخته کیږي اوبیا به هېڅکله ترې ونه وېریږي.

دلغتونومعنا: سوچ– فکر، پیاوړې – قوی او غښتلی، ستونزې – مشکلات

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې په وړو ډلو ووېشل شي او د لوست د متن یوه یـــوه کلمه دې یوبل ته داملا په توګه ووایي.

- زده کوونکي دې لاندې کلمې په تورو باندې واړوي.

(وېره، سپی، ځواب، غټ، کوچنی، ډوډۍ، آزار)

- دلاندې جملو تش ځایونه دچوکاټ په مناسبو کلمو سره ډک کړئ.

سپی
وېره
پوښتنه
کوچنی
ښوونځی

احمد _____ ته روان و.
په لاره کې یې دلېړې نه یو _____ ولید.
په _____ دکور خواته راوګرځېد.
په کور کې یې مور _____ تري وکړه.
احمد وویل: چې نه سپی _____ و اوماته یې کتل.

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې له لاندې ګډوډو کلمو څخه سمه جمله جوړه کړي.



نه وایي، سپیوته، آزار، چې، ونه رسیږي، چاته،څه

ketabton.com - The Digital Library

شپږ شپېتم لوست

دښمني او دوستي

موخه: د دغه لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د متن په لوستلو او لیکلو د دوستۍ په ګټــو او د دښمنۍ په زیانونو پوه شي او په دې وپوهیږي چې دوستي نېکمرغي رامنځ تــه کــوی او دښــمني بدمرغي رامنځ ته کوي.

پوښتنې:

(۱) ویلی شئ چې دښمني ولې ښه کار نه دی؟

(۲) څوک چې له بل چاسره خوشې دښمني کوي پایله یې څه ده؟

(۳) مورِ د دښمنۍ پرځای څه وکړو؟

(۴) آیا تاسو خپلو ملګرو سره ډول ناسته ولاړه کوئ.

دښمني

مورِک پیشو نه تښتي　　سپی له زمــرونه تښتي

دا دښــــمني بده ده　　دا بــد بیني بــــده ده

دوستي

راستي دوستي ټینګــوي　　راستي خپلوي ټینګــــوي

ژوندکې رښتیا وایه تــل　　راستــي وروري ټینګوي

اروابنباد روغمن

ketabton.com - The Digital Library

د زده کوونکو فعالیت:

زده کوونکي دې په وړو ډلو کې د لاندې جملـــو تـــش ځایونـــه د چوکاټ په مناسبو کلمو سره پوره کړي.

دښمن
دوست
سخت
نکوي
خوی
نېکي
زیاتوي

- له بدو خبرو، وهلو او ټکولو څخه _____ کول، دوستي زیاتوي.
- دوستي د ژوند خوند _____ وي.
- څوک چې ښه _____ لري، دیوازي توب احساس _____.
- د دوست پیداکول _____ کار دی.
- تر نادارن _____ هوښیار _____ ښه دئ.

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې د ددوستۍ په هکله یوه جملـــه ولیکي.

ketabton.com - The Digital Library

اووه شپېتم لوست

زړه سوی

موخه: د زړه سوي په اهميت او ارزښت پوهېدل او هغه په عملي توګه پلي کـــول او د دې مـــتن لوستل او ليکل دي.

پوښتنې:

(۱) که ستاسې په لاس کې ډوډۍ وي او په خوا کې مو وړوکی ماشوم له لوړې ژاړي څه به وکړئ؟

(۲) که چېرې يوځوک له يوې پېښې سره مخامخ شي تاسوله هغه سره څه ډول زړه سوی ښودلی شئ؟

يوه ورځ زلمي د بام په سر ګوډۍ الوزوله ناڅاپه له بام څخـــه لاندې راولوېد، اوپښه يې تېپې شوه، ښه شو چې ځمکه سمنټ نه وه که نه له مرګ سره به مخامخ شوی وای. زلمی په ټولو ګران و ځکه چې له ټولو سره يې ښه چلند کاوه. زلمي په ژويو ډېـــر زړه ســـوی درلود. ده به ماشومان نه پرېښودل چې سپي په تيږو وولي. په ګرمۍ کې به يې خټګرانو او مزدورانو ته سړې شړومبي او اوبه وروړلې. زه او مورمې چې خبر شو ژر دزلمي دخبر اخيستلو له پاره هغوی کـــره ورغلو، زمورږ نور ګاونډيان چې خبر شول سمدلاسه راغلل او زلمی مو روغتون ته بوته او بستر شو.

ketabton.com - The Digital Library

هره ورځ به چې زه دزلمي پوښتنې له پاره روغتون ته تلـــم، هغه ته مې ډاډ ورکاوه وروسته له څو ورځو چې زلمی روغ شو او کورته راغی. ټول ورته خوشحاله شول. ده له ځان سره ژمنه وکړه چې نور به د بام په سر ګودۍ نه پورته کوي.

نو مونږ ته هم لازمه ده چې په انسانانو او ژویو زړه ســـوی ولرو او د اړتیا په وخت کې له یوبل سره مرسته وکړو.

د زده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې کلمې او یا سمې جملې په نښه کړي لکه:

– زلمی پر بایسکل سپور و چې موټر وواهه. سم (ناسم)

– زلمي ماشومان نه پرېښودل چې سپي په تیږو وولي. سم ناسم

- زده کوونکي دې د جملې تش ځای په خپلو کتابچو کې ډک کړي.

زلمی د _____ په خاطر په خلکو ګران دی.

کورنۍ دنده: زده کوونکي دې دغه کیسه په یاد زده کړي.

ketabton.com - The Digital Library

د پوهنې ترانه

پـــوهنـــه ده رڼـــــــــــا وطـــــن تـــــه مـــوښکـــــلا
کتـــــــــاب او قلـــــــم زمـــــــــوږه رهنـــمـــــــا
پوهنـــه ده رڼا، وطن ته موښـــکلا
کتاب او قلـــــم زمـــوږه رهنما

وطـــــن زمـــــا يې ځـــــان له تـــــانه شـــــم قربـــــان
تـــــه وينـــــه دافغـــــــان تـــــه لـــوړ پـــه ټول جهان
پوهنـــه ده رڼا، وطن ته موښـــکلا
کتاب او قلـــــم زمـــوږه رهنما

آبـــــاد اوســـــــې آبـــــاد وطنـــــه تـــــه شـــې ښـــاد
مـــونـــــږه سرښنـــدوپه تـــــا اوســـــــــــاتو دې آزاد
پوهنـــه ده رڼا، وطن ته موښـــکلا
کتاب او قلـــــم زمـــوږه رهنما

تـــــه کور يې هـــــم مـــې ګور تـــــه پلاريـــې هـــم مې مور
تـــــــه زړه دآســـــــــيا او زمـــــا دسترګـــــو تـــور
پوهنـــه ده رڼا، وطن ته موښـــکلا
کتاب او قلـــــم زمـــوږه رهنما

تـــــه ننـــــګ يې دآريـــــــا او تـــــــــاج يې ديمـــــــا
ځاربـــږمـــــــه لـــــه تـــــا افغـــــــانستـــــــان زمـــا
پوهنـــه ده رڼا، وطن ته موښـــکلا
کتاب او قلـــــم زمـــوږه رهنما

محمد مُعین مرسیتال

Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

www.ketabton.com

Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English